رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

رِسَالَةٌ فِي الدِّمَاءِ الطَّبِيعِيَّةِ لِلنِّسَاءِ | بشتو | پښتو

# د ښځو د طبيعي وينو (حيض، نفاس او استحاضې) په اړه ليکنه

د فضيلة الشيخ علامة
د محمد بن صالح العثيمين په قلم
اللهدي هغه او د هغه مور او پلار ته ښښنه وکړي

رِسَالَةٌ فِي الدِّمَاءِ الطَّبِيعِيَّةِ لِلنِّسَاءِ

# د ښځو د طبيعي وينو (حيض، نفاس او استحاضې) په اړه ليکنه

بِقَلَمِ فَضِيلَةِ الشَّيْخِ العَلَّامَةِ
مُحَمَّدِ بْنِ صَالِحٍ العُثَيْمِينِ
غَفَرَ اللَّهُ لَهُ وَلِوَالِدَيْهِ وَلِلمُسْلِمِينَ

د فضيلة الشيخ علامة
د محمد بن صالح العثيمين په قلم
الله دې هغه او د هغه مور او پلار ته ښښنه وکړي

بِسْمِ اللهِ الرَّحمَنِ الرَّحِيمِ

# د ښځو د طبيعي وينو (حيض، نفاس او استحاضې) په اړه ليکنه

الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونتوب إليه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا، ومن سيّئات أعمالنا. من يهده الله فلا مضلّ له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلّا الله وحده لا شريك له، وأشهد أنّ محمدًا عبده ورسوله، صلّى الله عليه وعلى آله وأصحابه ومن تبعهم بإحسانٍ إلى يوم الدّين، وسلّم تسليمًا.

اما بعد: هغه ويني چې په ښځه راځي هغه حيض، استحاضه او نفاس دي، دا له مهمو کارونو څخه دي چې وپېژندل شي او اړوند احکام يې بيان شي، همدارنګه په اړه يې د علماوو د ناسمو او سمو ويناوو تر منځ توپير وکړل شي. او د ترجيح ورکولو او يا ضعيف ګڼلو پر مهال بايد باور په هغه څه وشي چې د قرآن او سنت په رڼا کې راغلي وي.

ځکه دا دواړه بنسټيزې سرچيني دي؛ هغه چې احکام پرې بنا کيږي کوم چې بنده ګان پرې د الله تعالى عبادت کوي او د هغه لخوا پرې مکلف شوي دي.

او ځکه چې په قرآن او سنت باندې باور کولو کې د زړه سکون، د سينې پراخوالى، د نفس پاکوالى او د غاړې خلاصيدل دي.

٣- او ځکه چې لدې پرته نورو ته دليل پلټل کيږي نه دا

چې استدلال پرې کيږي.

ځکه چې د الله له کلام او د هغه د رسول - صلى الله عليه وسلم - له وينا پرته په بل څه کې حجت نشته، او همدارنګه د صحابه و وينا، د راجح قول په بنا، پدې شرط چې داسې څه پکې نه وي چې د قرآن او يا سنت سره په ټکر کې واقع شي، او همدارنګه د بل صحابي له وينا سره په ټکر کې نه وي، که چيرته په قرآن او سنت کې داسې څه و چې دا يې خلاف و ، نو هغه څه چې په قران او سنت کې دي اخستل يې واجب دي، او که چېرته د بل صحابي له وينا سره په ټکر کې و، د دواړو ويناوو تر منځ ترجيح لټول کيږي او راجح يې اخيستل کيږي؛ د الله تعالى د دې وينا له مخې:

﴿...فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلًا﴾

(...نو که په څه کی مو سره شخړه راغله، الله او رسول ته يې ور وګرځوئ، که (ربنتيا) تاسو په الله او آخرت ورځ ايمان لرئ، دا غوره او په انجام کې ډېره ښه ده). [النساء سورت: ۵۹ آيت].

او دا يوه لنډه رساله ده، چې په هغې کې د دغو وينو (لکه د حيض، نفاس او استحاضې) وضاحت او هغه احکام ذکر شوي دي چې خلک ورته اړتيا لري، او دا رساله په لاندې فصلونو مشتمله ده:

لومړى فصل: د حيض معنا او حکمت.

دويم فصل: د حېض وخت او موده.

دريم فصل: هغه بيړني حالتونه چې په حېض کې رامنځ ته کيږي.

څلورم فصل: د حېض احکام.

پنځم فصل: نا منظمه وينه (استحاضه) او احکام يې.

شپږم فصل: له زيږون وروسته وينه (نفاس) او احکام يې.

اووم فصل: د هغه څه د کاروني په اړه چې يا خو حيض بندوي او يا يې هم راولي، او هغه څه چې د حمل مخنيوی کوي او يا يې غورځوي.

## لومړی فصل: د حيض معنا او حکمت

حېض په لغت کې: د يو شي بهېدل او روانيدل دي.

او په اصطلاح کې: هغه وينه ده چې په طبيعي توګه پرته له کوم سبب څخه په ټاکلو وختونو کې ښځو ته پيدا کيږي، نو دا طبيعي وينه ده چې پرته له کومې ناروغی، زخم، اولاد ضايع کېدو او يا زيږون له امله رامنځ ته کيږي، نو کله چې دا يوه طبيعي وينه ده د ښځو چاپيريال، د ښځو د حالت چاپيريال او هوا ته په ليدو توپير لري، لدې امله ښځې يکې (يوه له بلې) سره جلا او ښکاره او توپير لري.

حکمت يکې دا دی چې کله ماشوم د مور په ګيډه کې وي نو هغه ډول خواړه نشي اخستلی لکه څرنګه يې چې له ګېډې د باندې خلک اخلي، او تر ټولو پرې زړه سواندی انسان(مور

يې) نشي کولی چې څه خواړه ورته ورسوي، نو دا مهال الله تعالی په مېرمنو کې د ويني داسې افرازات پيدا کوي چې ماشوم يې له مخې د مور په ګېډه کې خواړه اخلي پرته لدې چې خوراک او يا هضمولو ته يې اړتيا ولري؛ هغه داسې چې د نوم له لارې يې بدن ته داخلېږي بيا يې وينه رګونو ته داخلېږي او هغه پرې تغذيه کېږي، نو الله پورته، لوی او په ښايسته بڼه جوړوونکی ذات دی.

نو پدې حيض کې همدا حکمت دی، لدې امله کله چې مېرمن اميدواره شي نو حيض يې بند شي، بيا نو حيض پرې نه راځي مګر په ډېرو لږو حالاتو کې، همدا رنګه شېده ورکوونکي مېرمني لږ ې ليدل کېږي چې حيض پرې راځي په ځانګړې توګه د شېدو ورکولو په لومړي وخت کې.

## دويم څپرکی: د حيض وخت او موده

پدې څپرکي کې دوه موضوع ګانې څېړل کېږي:

لومړی موضوع: هغه عمر چې حيض پکې راځي.

دويمه موضوع: د حيض موده.

نو لومړی موضوع هغه عمر دی چې غالبا حيض پکې راځي؛ چې هغه له دولسو نه تر پنځوسو کلونو پورې دی او د ښځو حالت، چاپيريال او د ځای هوا ته په ليدو کيدی شي مېرمن لدې وړاندې او يا وروسته هم حايضه شي.

علماء - رحمهم الله - پدې اړه اختلاف لري چې: آيا هغه عمر چې حيض پکې راځي ټاکلی عمر دی چې نه وروسته کېږي او نه مخکې کېږي، او هغه وينه چې لدې وړاندې يا

وروسته راځي هغه د ناروغۍ له امله وي نه د حېض؟

پدې اړه علما بېلابېل نظرونه لري، دارمي وروسته لدې چې د اختلافاتو يادونه يې کړې - ويلي: دا ټول زما په اند غلط دي، ځکه پدې کې مرجع موجوده حالت دی؛ نو هر څومره چې وموندل شوه، که په هر حال او سن کې وي واجب دي چې حېض وګڼل شي. الله ښه پوهيږي.[1]

او دا خبره چې دارمي کړې سمه ده، او دا د شيخ الاسلام ابن تيميه ټاکنه هم ده، نو هر کله چې ښځې حيض وليد، هغه حايضه ده، که څه هم له نهو کلونو ټيټه او يا له پنځوسو پورته وي.[2] دا ځکه چې الله او رسول يې د حيض حکمونه موجوده حالت پورې تړلي دي، او الله او رسول يې ورته کوم ځانګړی سن ندی ټاکلی، نو موجوده حالت ته رجوع کول پکار دي چې احکام ورپورې تړلي دي، او ځانګړی عمر ورته ټاکل له قرآن او سنت څخه دليل ته اړتيا لري، او پدې کې هيڅ دليل نشته.

دويمه موضوع د حيض مهال (موده) ده: د وخت اندازه يې.

نو پدې کې علماوو زيات اختلاف کړی دی؛ په نږدې شپږو او يا اووه قولونو سره، ابن المنذر رحمه الله فرمايي:

---

1 د الدارمي کتاب: أحكام المتحيرة فی الحيض (۱۷ مخ).

2 بخاري په كتاب الحيض، باب تقضي الحائض المناسك كلها إلا الطواف بالبيت کې په (۳۰۵) شميره، او مسلم: په کتاب الحج، باب بيان وجوه الإحرام کې په (۱۲۱۱) شمېره روايت کړی دی.

يوې ډلې علماوو ويلي: د حيض لپاره د کمې او زياتې مودې اندازه نشته.[1]

ما وويل: دا قول لکه د دارمي وينا چې وړاندې تېره شوه او هغه د شيخ الاسلام ابن تيمية غوراوی هم دی چې صيحح دی؛ ځکه چې قرآن، سنت او اعتبار پرې دلالت کوي.

لومړی دليل يې د الله تعالی دا قول دی:

﴿وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡمَحِيضِۖ قُلۡ هُوَ أَذٗى فَٱعۡتَزِلُواْ ٱلنِّسَآءَ فِي ٱلۡمَحِيضِ وَلَا تَقۡرَبُوهُنَّ حَتَّىٰ يَطۡهُرۡنَ...﴾

(او پوښتنه کوي دوی له تا نه -اې محمده!- د حيض (د احکامو) په اړه، ته ورته ووايه! دا يوه پليتي ده نو په ښځو پورې (جدا) شئ (له جماع د) ښځو (خپلو) په وخت د حيض کې او مه نږدې کېږئ! (په جماع سره) دوی ته تر څو پورې چې (ښې) پاکې شي...) [البقرة سورت: ۲۲۲ ايت ]، نو الله تعالی د ممانعت وروستی حد پاکوالی وټاکه، نه د يوې شپې يا ورځې او نه د دريو ورځو او يا پنځلس ورځو تېرېدل، چې دا په خپله پدې دلالت کوي چې د حکم علت د حيض شتون او يا نه شتون دی. نو تر څو چې حيض وي، حکم يې ثابت دی، او کله چې ترې پاکه شوه حکم يې له منځه تللی دی.

دويم دليل: هغه روايت چې په صحيح مسلم کې راغلی چې

---

[1] بخاري په کتاب العمرة، باب أجر العمرة على قدر النصب کې په: (۱۶۶۲) شميره او مسلم په کتاب الحج، باب بيان وجوه الإحرام کې په: (۱۲۱۱) شميره روايت کړی دی.

نبي - صلى الله عليه وسلم - عایښې رضي الله عنها ته وويل کله چې هغې د عمرې لپاره احرام تړلی و او حيض پرې راغی:

«افْعَلِي مَا يَفْعَلُ الْحَاجُّ، غَيْرَ أَنْ لَا تَطُوفِي بِالْبَيْتِ حَتَّى تَطْهُرِي»،

قَالَتْ: فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ النَّحْرِ طَهُرَتْ، فَأَفَاضَتْ.

«د بيت الله له طواف پرته نور ټول هغه څه وکړه چې يو حاجي يې کوي، تر دې چې پاکه شې». هغې وويل: کله چې د نحر ورځ شوه پاکه شوه، نو د افاضې طواف يې وکړ. حديث.[1]

او په صحيحينو کې راغلي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم هغې ته وفرمايل:

«انتَظِرِي فَإِذَا طَهُرْتِ فَاخْرُجِي إِلَى التَّنْعِيمِ».

«صبر وکړه، کله چې پاکه شوې نو تنعيم ته ووځه»،[2] نو پيغمبر صلى الله عليه وسلم د منعې لپاره وروستی حد پاکوالی وټاکه، نه دا چې ځانګړی وخت يې ورته ټاکلی وي، دا پر دې دلالت کوي چې حکم د حيض د شتون او نه شتون پورې تړلی دی.

دريم دليل: دا يادې شوې اندازې او تفصيلونه چې له فقهاوو يې چا پدې مسأله کې يادونه کړې ده؛ نه د الله تعالى په کتاب او نه د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - په سنتو کې شته،

1 د هغو نومونو رساله چې شارع حکمونه پرې معلق کړي دي (۳۵: مخ)
2 مخکينی مصدر ( ۳۶: مخ).

سره لدې چې بیانولو ته یې سخته اړتیا لیدل کیږي. نو که چېرته (دا اندازې) له هغو (مسائلو) څخه وی چې پر بندګانو یې پوهه او الله ته پرې عبادت واجب وی نو خامخا به الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم په ښکاره توګه ټولو ته بیان کړې وې، د هغو احکامو د اهمیت د وچې چې پرې مرتبیږي لکه: لمونځ، روژه، نکاح، طلاق، میراث او داسې نور حکمونه. لکه څرنګه چې الله او رسول یې د لمونځونو شمېر، وختونه، رکوع ګانې او سجدې یې بیان کړي دي، او زکات: مالونه، نصابونه، اندازه او د لګښت ځایونه یې. او همدارنګه روژه، مهال او وخت یې. حج او وریپسې نور ورته مسایل، آن د خوراک، څښاک، خوب، کوروالي، ناستې، کور ته د ننوتلو او ورڅخه د وتلو آداب، د حاجت د رفع کولو آداب، آن (د اودس ماتي لپاره د ځان پاکولو په موخه) د ډبرو کارولو شمېر او داسې نورې باریکي او اړینې چارې، هغه چې الله پرې دین کمال ته رسولی، او پر مؤمنانو یې پرې خپل نعمت پوره کړی دی، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿...وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَـٰبَ تِبْيَـٰنًا لِّكُلِّ شَىْءٍ...﴾

(...او موږ دا کتاب پر تا نازل کړ چې په ډاګه د هر شي څرګندونکی دی...) [النحل سورت: ۸۹ آیت]، او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿...مَا كَانَ حَدِيثًا يُفْتَرَىٰ وَلَـٰكِن تَصْدِيقَ الَّذِى بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ كُلِّ شَىْءٍ...﴾

(...دا څه له ځانه جوړې خبرې نه دي، بلکې د هغه څه تصديق دی چې ترې مخکې (نازل شوی) و او د هر شي ېپل ېپل بيان... [يوسف سورت: ۱۱۱ايت ].

نو چې کله دا اندازې او تفصيلات؛ نه د الله په کتاب او نه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په سنت کې شته، نو ښکاره شوه چې اعتبار پرې نشته، بلکه اعتبار په حيض مسمى ته ورکول کيږي؛ هغه چې شرعي حکمونه يې د شتون او نه شتون پورې تړل کيږي، او ددې دليل څخه مې مطلب دادی چې: په قرآن او سنت کې د دليل نشتوالی پخپله د دې په بې اعتباروالي دليل دی - چې دا تاته پدې او نورو علمي مسألو کې ګټور تماميږي - ځکه چې شرعي حکمونه پرته د الله له کتاب، د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - له سنت، ښکاره اجماع او صحيح قياس پرته نه ثابتيږي. شيخ الِاسلام ابن تيمية په خپله يوه قاعده کې ويلي: او لدې څخه د حيض نوم دی، چې الله پرې په کتاب او سنت کې زيات شمېر حکمونه تړلي دي، او د زيات او کم اندازه يې نده ښودلې، او نه د دوو حيضونو تر منځه پاکوالی د هغه عمومي ستونزی له امله چې امت پرې اخته دی او اړتيا ورته لري، او ژبه د يوې اندازې او بلې اندازې تر منځ توپير نه کوي، نو چا چې پدې کې اندازه وټاکله نو پرته له شک نه چې د کتاب او سنت مخالفت يې وکړ. خبره يې پای ته ورسيده.[1]

څلورم دليل: اعتبار، يعني صحيح او مقبول قياس، هغه

---

1 مخکينی مصدر (۳۸ مخ).

داسې چې الله تعالی د حیض لامل ضرر ښودلی دی، نو کله چې حیض رامنځ ته شو نو ضرر شته، پدې کې نه د دویمې او لومړۍ ورځې او نه د ځلورمې او دریمې ورځې تر منځه توپیر شته، او نه خو د شپاړسمې او پنځلسمې، او نه د اتلسمې او اوولسمې ورځ تر منځ توپیر شته، نو حیض، حیض دی او ضرر هماغه ضرر دی، او علت په برابره توګه په دواړو ورځو کې شته، نو څنګه د دوو ورځو تر منځ توپیر صحیح کیدلی شي، سره لدې چې په علت کې سره برابرې دي؟ آیا دا د صحیح قیاس خلاف کار ندی؟ آیا په صحیح قیاس کې دواړه ورځې سره برابرې ندي؟ په دې وجه چې په علت کې سره برابرې دي؟.

پنځم دلیل: د ټاکونکو د ویناوو تر منځ اختلاف او ګډوډي، دا پدې دلالت کوي چې پدې مسأله کې داسې دلیل نشته چې د (پریکړې) لپاره ورګرځیدل واجب وي، بلکه دا اجتهادي حکمونه دي چې کیدی شي صحیح او یا غلط وي، هیڅ یو یې په پیروۍ کې پر بل لومړیتوب نه لري، او د اختلاف پر مهال قرآن او سنت ته ورګرځیدل دي.

نو کله چې د دې قول پیاوړتیا ښکاره شوه چې: د لږ او ډیر حیض لپاره ټاکلې اندازه نشته، او همدا راجح قول دی، نو پوهه شه چې هره هغه وینه چې ښځې ولیده او کوم ځانګړی علت یې لکه زخم او داسې نور نه درلوده، نو دا د حیض وینه ده، پرته لدې چې په وخت او یا عمر سره اندازه کړی شي، مګر دا چې په دوامداره توګه په ښځه راځي او هیڅ نه پرې کیږي او یا دا چې د لنډ مهال لپاره پرې شي لکه: په میاشت

کې یوه او یا دوه ورځې، نو دا به استحاضه وي. او - ان شاء الله تعالی - ژر دی چې د استحاضې او د هغی حکمونو په اړه به معلومات وړاندې شي.

شيخ الاسلام ابن تيمية ويلي: اصل دادی چې هر هغه څه چې له رحم نه راوځي هغه حيض دی، تر دې چې دليل پيدا شي چې استحاضه ده.[١]

همدارنګه وايې: هره هغه وينه چې راغله که پدې نه پوهېده چې دا د رګ او يا زخم وينه ده نو دا حيض دی. وينا يې پای ته روسيده.[٢]

او دا قول لکه څرنګه چې د دلايلو له نظره تر ټولو راجح دی، پوهې او درک ته هم نږدې دی او په عمل او تطبيق کې د هغه څه په پرتله آسانه دی چې ټاکونکو يې يادونه کړې ده، او هغه څه چې دا ډول وي نو د منلو وړ وي، ځکه چې د اسلامي دين له روحيې او هغې قاعدې سره چې آسانتيا او سهولت دی اړخ لګوي، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿...وَمَا جَعَلَ عَلَيۡكُمۡ فِي ٱلدِّينِ مِنۡ حَرَجٖ...﴾

(...او په دين کې يې پر تاسو څه تنګون نه دی راوستی...) [الحج سورت: ايت ٧٨]، او رسول الله صلی الله عليه وسلم

---

1 بخاري په کتاب الإيمان، باب الدين يسر کې په (٣٩) شمېره، د ابو هريرة رضي الله عنه له حديث څخه روايت کړی دی.

2 بخاري په کتاب المناقب، باب صفة النبي صلَّى الله عليه وسلَّم کې په (٣٥٦٠) شمېره، او مسلم په کتاب الفضائل، باب مباعدته صلَّى الله عليه وسلَّم للآثام کې په (٢٣٢٧/٧٧) شمېره روايت کړی دی.

فرمايلي:

«إِنَّ الدِّينَ يُسْرٌ وَلَنْ يُشَادَّ الدِّينَ أَحَدٌ إِلَّا غَلَبَهُ فَسَدِّدُوا وَقَارِبُوا وَأَبْشِرُوا».

«بېشکه دين اسان دی، او هيڅوک به په دين کې سختي اختيار نه کړي مګر دا چې دين به پرې غالب شي، نو سمه لار خپله کړئ او نږدېوالی غوره کړئ او زېری ورکړئ».

بخاري روايت کړی.[1]

او د نبي صلی الله عليه وسلم اخلاق داسې وو چې:

«أَنَّهُ مَا خُيِّرَ بَيْنَ أَمْرَيْنِ إِلَّا اخْتَارَ أَيْسَرَهُمَا مَا لَمْ يَكُنْ إِثْمًا».

«هيڅکله د دوو چارو تر منځ واک ندی ورکړل شوی مګر دا چې له دواړو يې آسان غوره کړی، پدې شرط چې ګناه به نه وه».[2]

د اميدوارۍ حيض:

ډيری وختونه چې ښځه حامله شي نو وينه يې بنديږي، امام احمد رحمه الله فرمايلي: «اميدوارې ښځې د وينې په وردېدلو سره پيژندل کيږي».[3]

کله چې اميدواره ښځه وينه وګوري، نو که چيرته له زيږون څخه لږه موده وړاندې وه لکه دوه يا درې ورځې او

---

1 مجموع الفتاوی (۲۳۸/۱۹-۲۳۹).
2 الأوسط (۳۵۶/۲).
3 المغني (۴۰۵/۱) وګوره.

درد ورسره و نو نفاس ده، او که چیرته له زیږون څخه زیاته موده وړاندې وه، او یا له زیږون څخه کمه موده وړاندې وه خو درد ورسره نه و، نو نفاس نده، خو آیا دا به حیض وي تر څو یې أحکام پرې جاري شي او کنه د نارو غتیا له امله به وي تر څو د حیض حکم ورنکړل شي؟.

پدې کې د علماوو تر منځ اختلاف دی، خو صحیح خبره دا ده چې دا حیض دی که چیرته د عادت په څېر حیض وو، ځکه په اصل کې کومه وینه چې په ښځه راځي هغه حیض وي، مګر دا چې کوم بل لامل موجود وي چې د حیض مانع ګرځیدلی وي، او په قرآن او سنت کې داسې څه نشته چې په امیدوارې ښځې حیض نه راځي.

او همدا د مالک او شافعي مذهب او د شیخ الاسلام ابن تیمیة ټاکنه ده؛ په اختیاراتو کې وایي: ۳۰ مخ ، او بیهقي له احمد څخه د روایت په بڼه حکایتوي، بلکه ویل کیږي چې هغه بیرته ورګرځیدلی. وینا یې پای ته ورسیده.[۲۱]

نو بناء د امیدوارې ښځې حیض ته هغه حکم ثابتیږي کوم چې د غیر امیدوارې لپاره ثابتیږي، ملګر په دوو مسایلو کې:

لومړۍ مسأله: طلاق، د غیر امیدوارې ښځې طلاقول په حیض کې چې عدت تېرول پرې لازم وي حرام دي، خو د امیدوارې ښځې طلاقول (په حیض) کې حرام ندي؛ ځکه د حیض پر مهال د غیر امیدوارې ښځې طلاقول د الله تعالی د

---

1 اختلاف الفقهاء (١٩٣ مخ)، الأوسط (٢/ ٢٣٩).
2 المدونة (١/ ١٥٥)، النوادر والزيادات (١/ ١٣٦).

دې قول مخالفت کول دي:

﴿...فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ...﴾

(...نو طلاق ورکړئ دوی ته مخکې د زمانې د عدت نه...) [الطلاق سورت: ایت ١]، خو د امیدوارۍ طلاقول د حیض په حالت کې بیا د دې قول مخالف ندي، ځکه چا چې حامله طلاقه کړه، نو د عدت له مخې يې طلاقه کړې ده، برابره ده چې حیض ولري او که پاکه وي؛ ځکه د هغې عدت په حمل سره دی؛ لدې امله طلاقول يې له جماع نه وروسته حرام ندي، د نورو پر خلاف.

دویمه مسأله: د امیدوارۍ په حیض سره عدت نه تیریږي، د نورو د حیض پر خلاف؛ ځکه د امیدوارۍ عدت نه تیریږي مګر د حمل په زیږولو سره، برابره ده که حیض کېدله او يا نه؛ د الله تعالی د دې قول پر بنیاد:

﴿...وَأُوْلَاتُ الأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ...﴾

(...او د حامله ښځو د عدت حد دا دی چې هغوی حمل وضع کړي...) [الطلاق سورت: ایت ۴].

## دریم څپرکی: هغه بیړني حالتونه چې په حیض کې رامنځ ته کیږي

هغه بیړني حالتونه چې په حیض کې رامنځ ته کیږي، څو ډوله دي:

لومړی ډول: کموالی او زیاتوالی، لکه چې د یوې ښځې (میاشتنی) عادت شپږ ورځې وي، نو وینه اوومې ورځې ته

اوږده شي، يا دا چې عادت يې اووه ورځې وي، خو په شپږمې پاکه شي.

دويم ډول: مخکي والی او وروسته والی، لکه چې عادت يې د مياشتې په اخر کې وي نو حيض د مياشتې په سر کې پرې راشي، او يا دا چې د مياشتې په سر کې وي خو په اخر کې پرې راشي.

علماوو د دې دوو ډولونو په حکم کې سره مخالفت کړی دی، خو صحيح دا ده چې هر کله يې وينه وليدله هغه حايضه ده، او هر کله چې پاکه شوه نو هغه پاکه ده، برابره ده که له عادت څخه يې مريضي زياته او يا کمه وه، او همدارنګه برابره ده که مخکې پرې راغلې وي او يا وروسته، او وړاندې په تېر څپرکی کې پدې اړه دليل تېر شو، ځکه چې شريعت د حيض حکمونه د هغه په شتون او نشتون پورې وتړل.

او دا د شافعي مذهب او د شيخ الاسلام ابن تيمية ټاکنه ده، او د المغني خاوند تقويه کړی او ملاتړ يې ترې کړی او ويلي يې دي: که چيرته عادت ته داسې اعتبار ورکول کېده لکه چې په مذهب کې وويل شو، نو نبی - صلى الله عليه وسلم - به خپل امت ته بيان کړی و او هيڅکله به يې له خپلې نيتې پدې اړه وينا وروسته کړې نه وه؛[2][1] ځکه چې له خپل وخت څخه د وينا وروسته والی جايز ندی، او مېرمنې يې او نورې ښځې په هر وخت کې بيانولو ته اړتيا لري، نو هيڅکله به يې له ويلو غفلت

---

1 مجموع الفتاوى (٢٣٨/١٩-٢٣٩).
2 الأم (١/٨٢).

نه و کړی، او له هغه - صلی الله علیه وسلم - څخه د عادت په اړه یادونه او بیانول ندي راغلي مګر د مستحاضې په حق کې. وینا یې پای ته ورسیده.[1]

دریم ډول: زیړوالی او یا خړوالی، داسې چې زیړه وینه وګوري لکه زوي (د زخم اوبه) او یا خړه د زیړوالي او توروالي تر منځه، نو که دا د حیض په جریان کې وي او یا ورپسې سملاسي له پاکوالي څخه وړاندې وي نو حیض دی، د حیض حکمونه ورته ثابتوو، او که چیرته له پاکوالي څخه وروسته وه نو حیض نه دی؛ د ام عطیة رضي الله عنها د قول له امله: «موږ به له پاکوالي وروسته ژیړوالی او خړوالی هیڅ نه شمېره». ابو داود په صحیح سند سره روایت کړی دی،[2] او بخاري هم روایت کړی دی پرته له دې وینا یې (بعد الطهر) یعنې وروسته له پاکوالي، خو پخپله وینا یې ورته داسې باب ایښودلی دی: (باب الصفرة والكدرة فی غیر أیام الحیض) یعنې دا باب د زیړوالي او خړوالي په باره کې وروسته د حیض له ورځو څخه دی.[3]

په فتح الباري شرحه کې یې ویلي: «پدې وینا سره د عائشې حدیث ته چې وړاندې تېر شو پدې وینا سره یې: (حتی تَرین القَصة البیضاء) یعنې تر دې چې سپین والی وګورې. او د ام

1 المغني (۱/۳۹۶)
2 ابو داود په کتاب الطهارة، باب في المرأة ترى الكدرة والصفرة بعد الطهر کې په: (۳۰۷) شمېره روایت کړی دی.
3 بخاري په کتاب الحیض، باب الصفرة والكدرة في غیر أیام الحیض کې په (۳۲۶) شمېره نقل کړی دی.

عطیة د حدیث تر منځه چې د باب حدیث دی جمع کولو ته اشاره کوي، چې هغه: یعنې د عائشې حدیث پداسې حالت باندې حمل کیږي چې کله زیړوالی او خړوالی د حیض په ورځو کې وګوري، خو د حیض له ورځو پرته نو بیا هغه چې ام عطیة ویلي) وینا یې پای ته ورسیده.[1]

او د عائشې رضي الله عنها هغه حدیث چې اشاره یې ورته کړې ده هغه دی چې بخاري په تاکید سره مخکې لدې باب څخه معلق ذکر کړی دی، چې ښځو به هغې ته تکه لیږله (داسې یو څه چې مېرمنې پرې ځان ګوري تر څو پوهه شي چې آیا د حېض څه اثر پاتې دی کنه) په هغې تکه کې به مالوچ (پنبه) وه بیا به پرې زیړوالی و نو ویل به یې:[2] «بیړه مه کوئ تر څو چې سپینه مایع ووینئ».[3]

او القصة البیضاء: سپینې اوبه دي چې رحم یې د حیض د وردیدو پر مهال غورځوي.

څلورم ډول: په حیض کې وقفې راتلل، داسې چې یوه ورځ وینه وګوري او بله ورځ پاکوالی او داسې نور نو دا دوه حالتونه دي:

لومړی حالت: چې دا (حالت) د ښځې سره تل په هر وخت کې مل وي، نو دا د استحاضې وینه ده، څوک یې چې وګوري

---

1 فتح الباري (۱/ ۴۲۶).
2 صحیح البخاري (۷۱/ ۱).
3 بخاري معلق راوړی دی: کتاب الحیض، باب إقبال المحیض وإدباره، د (۳۲۰) شمېره حدیث څخه مخکې.

د استحاضې حکم ورته ثابتيږي.

دويم حالت: چې تل د ښځې سره مل نه وي، بلکه ځينې وختونه پرې راځي، او د پاکوالي لپاره صحيح وخت لري، نو پدې پاکوالي کې هم علما - رحمهم الله - اختلاف لري، چې آيا دا پاکوالی ده او که د حيض احکام پرې جاري کيږي؟

د شافعي مذهب په خپلو دوو اقوالو کې تر ټولو صحيح دا دی چې د حيض احکام پرې جاري کيږي، نو حيض به وي، او دا د شيخ الاسلام ابن تيمية او د الفائق د خاوند ټاکنه او د أبو حنيفة مذهب دی.[1][2][3] ځکه چې سپيني اوبه پکې نه ليدل کيږي، او ځکه چې که پاکوالی وګڼل شي نو له هغه مخکې او وروسته به حيض وي، چې پدې (قول) هيڅ ويونکی نشته، او کنه نو عدت به په قرء سره په پنځو ورځو کې تېر شوی و؛ او همدا رنګه که پاکوالی وګڼل شي، نو په هرو دوو ورځو کې به په غسل او نورو شيانو سره د حرج او سختۍ سبب کېده، حال دا چې شريعت کې سختي نشته، الحمد لله.

او د حنابله و له مذهب څخه مشهوره دا ده چې وينه حيض دی، او وچوالی پاکي ده مګر دا چې دواړه يوځای د حيض له نيټې زيات شي. نو هغه زياته وينه به استحاضه وي.[4]

او په مغني کې يي ويلي: «دې ته بايد پاملرنه وشي چې د

---

1 الأصل (٢/ ١٩-٢٠)

2 په الإنصاف کې يې له هغوی څخه نقل کړی دی.

3 الأم (١/ ٨٣-٨٤).

4 المغني (١/٢٢٦).

ويني ودريدل چې هر کله له يوې ورځې کم و نو هغه پاکوالی ندی، د هغه روايت پر اساس چې مونږ د نفاس په برخه کې راوړی، چې له يوې ورځې کمې مودې ته نه ګوري او دا صحيح خبره ده - ان شاء الله - ځکه وينه يو ځل جاري کيږي او بل ځل ودريږي، او څوک چې ساعت په ساعت غسل کولو ته اړتيا پيدا کوي، دا ورته سخته ده، چې دا سختوالی د الله تعالی د دې وينا پر بنياد لرې شوی دی:

﴿...وَمَا جَعَلَ عَلَيۡكُمۡ فِي ٱلدِّينِ مِنۡ حَرَجٖ...﴾

(...او په دين کې يې پر تاسو څه تنګون نه دی راوستی...)
[الحج سورت: ايت ٧٨]، وايي: له يوې ورځې د کمې مودې لپاره د ويني ودريدل پاکوالی ندی، مګر دا چې داسې څه وګوري چې په (پاکوالي) يې دلالت وکړي لکه د وينې پرې کيدل يې چې د عادت په وروستيو کې وي او يا دا چې سپينې اوبه وګوري. وينا يې پای ته ورسيده.[1]

نو د المغني دا قول به د دواړو قولونو تر منځه منځمهالی وي، الله په سمو ښه پوه دی.

پنځم ډول: په وينه کې وچوالی، داسې چې ښځه يوازې رطوبت وګوري، نو که دا د حيض په جريان کې و او يا وريسې جوښت له پاکوالي مخکې و نو دا حيض دی، او که چېرته له پاکوالي وروسته و نو حيض نه دی؛ ځکه چې د هغه وروستی حالت دا دی چې زيړوالی او خړوالي وګوري، او دا

1 المغني (١/٢٥٧).

يې حکم دی.

## څلورم څپرکی: د حیض احکام

حیض ډېر حکمونه لري چې له شلو نه زیاتیږي خو مونږ دلته هغه حکمونه یادوو چې ډېره اړتیا ورته لیدل کیږي، له هغې څخه:

لومړی: لمونځ: نو پر حائضې ښځې فرض او نفل لمونځونه حرام دي، او ورڅخه نه صحیح کیږي، همدا رنګه لمونځ پرې نه واجبیږي تر دې چې د یو پوره رکعت په اندازه وخت یې نه وي ترلاسه کړی، نو بیا پرې واجبیږي، برابره ده که د وخت په لومړي سر او یا یې پای کې دومره اندازه وخت موندلی وی.

د وخت په پیل کې بیلګه: پر ښځې د لمر لویدو څخه وروسته پداسې وخت کې حیض راشی چې د یو رکعت په اندازه وخت پاتې وی، نو کله چې پاکه شوه وربانديې واجب دي چې د ماښام لمونځ راوګرځوي، ځکه د یو رکعت په اندازه وخت یې مونلی و مخکې لدې چې حیض پرې راشي.

د وخت په پای کې بیلګه: ښځه د لمر له راختو څخه د یو رکعت په اندازه مخکې له حیض نه پاکه شوه، نو کله چې ځان پاک کړي، پرې واجب دي چې د سهار لمونځ راوګرځوي، ځکه دومره وخت یې له هغه نه موندلی و چې د یو رکعت کولو لپاره بسنه وکړي.

خو که چېرته حایضې له وخت څخه دومره وموندہ چې پوره یو رکعت ته بسنه نه کوي، مثلا په لومړي مثال کې چې

د لمر له ډوبیدو څخه یوه لحظه وروسته پرې حیض راشي او یا په دویم مثال کې د لمر له راختلو نه یوه لحظه مخکې له حیض نه پاکه شي، نو لمونځ پرې واجب ندی، د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د دې قول پر بنسټ:

«مَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الصَّلَاةِ فَقَدْ أَدْرَكَ الصَّلَاةَ».

"چا چې د لمونځ یو رکعت لاندې کړ، هغه لمونځ لاندې کړی دی". متفق علیه،[1] مفهوم یې دا دی؛ که چا له یو رکعت څخه کم وموند، نو لمونځ یې نه دی موندلی.

او که چېرته یې د مازدیګر له لمانځه څخه د یو رکعت وخت وموند، نو آیا د ماسپښین لمونځ پرې له مازدیګر سره واجب دی، او یا دا چې د ماخوستن د لمانځه له وخت څخه یې یو رکعت وموند، نو آیا د ماښام لمونځ پرې د ماخوستن سره واجب دی؟

په دې کې د علماوو تر منځ اختلاف دی، خو صحیح خبره دا ده چې نه پرې واجبیږي مګر هغه چې وخت یې موندلی وي، او هغه یوازې د مازیګر او ماخستن لمونځ دی؛ د هغه صلی الله علیه وسلم د وینا له مخې:

«مَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الْعَصْرِ قَبْلَ أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَقَدْ أَدْرَكَ

---

[1] بخاري په کتاب مواقیت الصلاة، باب من أدرك من الصلاة رکعة، شمېره (۵۸۰)، او مسلم په کتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب من أدرك رکعة من الصلاة فقد أدرك تلك الصلاة، شمېره (۶۰۷) د ابو هریرة رضي الله عنه له حدیث څخه نقل کړی دی.

الْعَصْرَ».

«چا چې د مازیګر یو رکعت د لمر له لوېدو مخکې لاندې کړ، نو مازیګر یې لاندې کړی دی». متفق علیه،[1] نو پیغمبر - صلی الله علیه وسلم نه دي ویلي چې: ماسپښین او مازیګر یې موندلی دی.

او نه یې پرې د ماسپښین واجبیدل یاد کړي، اصل کې د غاړې خلاصول دي، او دا د ابو حنیفة او مالک مذهب دی، په شرح المهذب کې ورڅخه حکایت شوی دی.[2]

او د الله تعالی یاد، الله اکبر، سبحان الله، الحمد لله، او په خوراک کې بسم الله ویيل او داسې نور، د حدیث او فقهې مسایلو لوستل، دعاء او آمین پرې ویيل او د قرآن کریم اوریدل نو لدې شیانو څخه هیڅ هم پرې حرام ندي، ځکه چې دا په صحیحینو او نورو کې ثابت شوي دي،

«أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَّكِئُ فِي حِجْرِ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وَهِيَ حَائِضٌ فَيَقْرَأُ الْقُرْآنَ».

«چې نبي - صلی الله علیه وسلم به د عائشې رضي الله عنها په غیږ پداسې حال تکیه وهلې وه او قرآن به یې لوسته

---

1 بخاري په کتاب مواقيت الصلاة، باب من أدرك من الفجر ركعة کې په (۵۷۹) شمیره او مسلم په کتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب من أدرك ركعة فقد أدرك تلك الصلاة کې په: (۶۰۸) شمېره د ابو هريرة رضي الله عنه له حدیث څخه روایت کړی دی.

2 المجموع شرح المهذب (۳/۷۰).

چې هغه به حائضه وه».[1]

او په صحیحینو کې له ام عطیة رضي الله عنها څخه هم روایت دی چې هغې له نبي صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چې ویل یې:

«يَخْرُجُ الْعَوَاتِقُ وَذَوَاتُ الْخُدُورِ وَالْحُيَّضُ -يَعْنِي: إِلَى صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ- وَلْيَشْهَدْنَ الْخَيْرَ، وَدَعْوَةَ الْمُؤْمِنِينَ، وَيَعْتَزِلُ الْحُيَّضُ الْمُصَلَّى».

«هغه نوې تازه شوې پیغلې او په پرده کې پټې او حائضې به راوځي، یعني د اخترونو لمونځونو ته او د خیر په ځای او د مؤمنانو په دعا کې دې حاضرې شي، او حائضې ښځې دې زمونږ د عیدگاه نه لرې اوسې».[2]

او په خپله حائضې لپاره د قرآن لوستل نو که چېرته یې په نظر سره او یا زړه کې لولي پرته لدې چې تلفظ پرې وکړي نو پروا نه کوي، داسې لکه چې مصحف او یا تخته کیږدي، آیتونو ته یې گوري او په زړه کې یې لولي. نووي په شرح

1 بخاري په کتاب الحیض، باب قراءة الرجل في حجر امرأته وهي حائض، شمیره (۲۹۷)، او مسلم په کتاب الحیض، باب اتکاء الرجل في حجر زوجته وهي حائض وقراءة القرآن، شمیره (۳۰۱)، د عائشة رضي الله عنها له حدیث څخه نقل کړي دي.

2 بخاري په کتاب الحیض، باب شهود الحائض العیدین ودعوة المسلمین، ویعتزلن المصلی، شمیره (۳۲۴)، او مسلم په کتاب صلاة العیدین، باب ذکر إباحة خروج النساء في العیدین إلی المصلی وشهود الخطبة، مفارقات للرجال، شمیره (۸۹۰) نقل کړی دی.

المهذب کې ويلي: (پرته له خلاف نه جايز دی).[1]

خو که چيرته يې لوستل په ژبې سره کول، نو جمهور علماء پدې اند دي چې منع دی او جواز نه لري. بخاري، ابن جرير الطبري او ابن المنذر ويلي: هغه جائز دی.[2][3][4]

او له مالک څخه حکايت شوی او له شافعي څخه په زوړ قول کې يې، له دواړو يې په فتح الباري کې حکايت کړی دی.[6][5]

او بخاري په تعليق سره له ابراهيم النخعي څخه يادونه کړې چې: پروا نه کوي که آيت ولولي.[7]

او شيخ الاسلام ابن تيمية په الفتاوی د ابن قاسم په ټولګه کې ويلي: «د قرآن له تلاوت څخه د هغې په منع کولو کې په اصل کې هيڅ سنت نشته، ځکه د هغه دا قول چې:

«لَا تَقْرَأُ الحَائِضُ وَلَا الجُنُبُ شَيْئًا مِنَ الْقُرْآنِ».

---

1 المجموع (٢/ ٣٥٧).
2 الأوسط (٢/ ٢٢٣).
3 فتح الباري (١/ ٤٠٨).
4 وګورئ صحيح البخاري: كتاب الحيض، باب تقضي الحائض المناسك كلها إلا الطواف بالبيت، او فتح الباري (١/ ٤٠٧-٤٠٨).
5 فتح الباري (١/ ٤٠٨).
6 المجموع (٢/ ٣٥٦).
7 بخاري په كتاب الحيض، باب تقضي الحائض المناسك كلها إلا الطواف بالبيت، د (٣٠٥) شمېرې حديث څخه مخکې راوړی دی.

«حایضه او جنب دې د قرآن څخه هیڅ شی نه لولي».[1] دا حدیث د محدثینو په اتفاق ضعیف دی.[2]

او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې ښځې حائضه کېدلې نو که چېرته پرې د قرآن لوستل حرام و لکه لمونځ؛ نو پیغمبر الله صلی الله علیه وسلم به خپل امت ته بیان کړي و او د مؤمنانو مورګانو ته به یې هم ورښودلې و او خامخا به یې دا خبره خلکو ته رسولې وه، نو کله چې هیڅا پدې اړه له پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - څخه منع کول ندي رانقل کړي ، نو روا نده چې حرام وګرځول شي، سره لدې چې هغه ورڅخه منع نده کړې، او سره له دې چې د هغه په زمانه کې حائضې ډیرې وې او بیا یې هم ترې منع نده کړې، نو معلومه شوه چې حرام نه دی. وینا یې پای ته ورسیده.[3]

وروسته لدې چې د علماوو تر منځ پر اختلاف پوه شو نو په کار ده چې وویل شي: غوره دا ده چې حائضه دې په ژبه قرآن نه لولي مګر د اړتیا پر مهال؛ که ښوونکې وه نو زده کوونکو ته یې باید په ژبه وروښايي، او یا د آزموینې پر مهال نو زده کوونکې اړتیا لري چې د آزموینې لپاره یې ولولي او داسې نور.

---

1 ترمذي: أبواب الطهارة، باب ما جاء في الجنب والحائض أنهما لا يقرآن القرآن، شمېره (۱۳۱) کې روایت کړی.

2 وګورئ: د الترمذي العلل (مخ: ۶۹/ ترتيبه)، او د البيهقي السنن الكبرى (۱/ ۳۰۹)، او د ابن عبد الحق الأحكام الشرعية (۱/ ۵۰۴)، او د الزيلعي نصب الراية (۱/ ۱۹۵).

3 مجموع الفتاوى (۲۶/ ۱۹۱).

دويم: روژه: پر حائضې د فرضي او نفلي روژو نيول حرام دي، او ورځخه نه صحيح کيږي، مګر د فرضي روژو قضا راوړل پرې واجب دي، د عائشې رضي الله عنها د حديث پر اساس:

"كَانَ يُصِيبُنَا ذَلِكَ -تَعْنِي: الْحَيْضَ- فَنُؤْمَرُ بِقَضَاءِ الصَّوْمِ وَلَا نُؤْمَرُ بِقَضَاءِ الصَّلَاةِ".

"مونږ ته به رارسيده، يعنې: حيض- بيا به راته د روژې په قضا راوړلو امر کېده او د لمانځه پر قضايي راوړلو به راته امر نه کېده". متفق عليه.[1]

او کله چې د روژې پر مهال پرې حيض راغی نو روژه يې باطله شوه، اګر که د لمر له ډوبيدو څخه يوه لحظه وړاندې وي، او د هغې ورځې قضا راوړل پرې واجب دي که چيرته فرضي روژه وه. خو که چېرته يې د حيض راتلل له غروب څخه وړاندې حس کړه مګر حيض پرې له غروب څخه وروسته راغی نو روژه يې پوره ده او په صحيح قول سره باطله نه ده؛ ځکه چې په داخل کې د وينې لپاره حکم نشته؛

او ځکه چې کله له پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - څخه د هغې ښځې په اړه پوښتنه وشوه چې په خوب کې هغه څه وګوري چې يو نارينه يې ګوري آيا پر هغې غسل شته؟

---

1 بخاري په کتاب الحيض، باب لا تقضي الحائض الصلاة، شمېره (۳۲۱)، او مسلم په کتاب الحيض، باب وجوب قضاء الصوم على الحائض دون الصلاة، شمېره (۳۳۵) کې روايت کړې دی، او لفظ يې د مسلم دی.

قال: «نَعَمْ إِذَا هِيَ رَأَتِ الْمَاءَ».

ويې ويیل: «هو؛ کله چې هغه اوبه وګوري»[1] نو حکم یې د مني په لیدلو پورې وتاړه نه له خپل ځای څخه په خوځیدلو، نو حیض هم همدارنګه دی چې حکمونه یې نه ثابتیږي مګر په لیدلو یې نه پدې چې له خپل ځای څخه (وینه) حرکت وکړي.

او کله چې سبا راوخيژي او دا حائضه وي نو د هغې ورځې روژه یې نه صحیح کیږي اګر که له سهار څخه یوه لحظه وروسته هم پاکه شوې وي.

او کله چې له سبا څخه لږ مخکې پاکه شوه او روژه یې ونیوله نو روژه یې صحیح ده، اګر که له سهار څخه وروسته غسل وکړي، لکه د جنُب په څېر کله چې د روژې نیت وکړي او هغه جُنب وي او غسل ونکړي مګر د سبا له راختو څخه وروسته، نو روژه یې صحیح ده؛ د عائشې رضي الله عنها په حدیث کې راغلي دي وايي چې:

"كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصْبِحُ جُنُبًا مِنْ جِمَاعٍ غَيْرِ احْتِلَامٍ ثُمَّ يَصُومُ فِي رَمَضَانَ".

«پیغمبر صلی الله علیه وسلم به له جماع څخه جنب و؛ نه له احتلام څخه او سبا به پرې راوښاته بیا به یې د رمضان

---

1 بخاري په کتاب العلم، باب الحیاء في العلم، شمېره (۱۳۰)، او مسلم په کتاب الحیض، باب وجوب الغسل علی المرأة...، شمېره (۳۱۳) کې نقل کړی دی.

روژه نیوله». متفق علیه.[1]

دریم حکم: له کعبې څخه طواف: په حایضې باندې د بیت الله طواف حرام دی، که فرضي وي او یا نفلي، او ترې نه صحیح کیږي؛ او پاتې شول نور کارونه لکه: د صفا او مروه تر مینځ سعي، په عرفې ودرېدل، مزدلفه او منا کې د شپو تېرول، د جمراتو ویشتل او داسې نور د حج او عمرې له مناسکو څخه نو ورباندې حرام نه دي، دلیل یې عائشې ته د نبي - صلی الله علیه وسلم - وینا ده کله چې پرې حیض راغی:

«افْعَلِي مَا يَفْعَلُ الْحَاجُّ غَيْرَ أَلَّا تَطُوفِي بِالْبَيْتِ حَتَّى تَطْهُرِي».

«هغه څه وکړه چې حاجی یې کوي، مګر تر څو چې پاکه شوې نه یې د بیت الله طواف مه کوه»[2]

نو پر دې اساس؛ که چېرته ښځې د پاکوالي پر مهال طواف وکړ بیا د طواف وروسته سمدلاسه پرې حیض راغی، او یا د سعي پر مهال، نو په دې کې هیڅ باک نشته.

څلورم حکم: له حایضې څخه د طواف الوداع ساقطېدل ( د الله په امانۍ طواف ): نو کله چې ښځې د حج او عمرې مناسک پوره کړل بیا پرې حیض راغی مخکې له دې چې

---

1 بخاري په کتاب الصوم، باب اغتسال الصائم، شمېره (۱۹۳۱)، او مسلم په کتاب الصيام، باب صحة صوم من طلع عليه الفجر وهو جنب، شمېره (۱۱۰۹) کې نقل کړي.

2 بخاري په: كتاب الحيض، باب تقضي الحائض المناسك كلها إلا الطواف بالبيت کې په: (۳۰۵) شمېره، او مسلم په: كتاب الحج، باب بيان وجوه الإحرام کې په: (۱۲۱۱) شمېره روایت کړی دی.

خپل هېواد ته ووځي، او تر وتلو پورې حائضه پاتې شوه، نو هغه به له طواف الوداع پرته راوځي (يعنې د الله په امانۍ طواف پرې نشته)؛ د ابن عباس رضي الله عنهما د حديث له وجې هغه فرمايلي:

"أُمِرَ النَّاسُ أَنْ يَكُونَ آخِرُ عَهْدِهِمْ بِالْبَيْتِ، إِلَّا أَنَّهُ خُفِّفَ عَنِ الْمَرْأَةِ الْحَائِضِ".

«خلکو ته امر شوی چې وروستی عمل يې د بيت الله (کعبې) طواف وي، خو دا طواف حائضه مېرمنې ته معاف شوی دی». [متفق عليه].[1]

او حائضې ښځې ته د الله په امانۍ پر مهال مستحب نه دي چې د مسجد الحرام دروازې ته راشي او دعا وکړي، ځکه دا د نبي - صلى الله عليه وسلم - څخه نه دي راغلي، سره لدې چې عبادات توقيفي دي (له هغه څخه په نقل) مبني دي، بلکه هغه څه چې له نبي -صلى الله عليه وسلم- څخه راغلي د دې خلاف دي، ځکه د صفيه -رضي الله عنها- په قصه کې کله چې د افاضې له طواف څخه وروسته پرې حيض راغی؛ نبي - صلى الله عليه وسلم ورته وويل:

«فَلْتَنْفِرْ إِذَنْ».

---

1 بخاري په کتاب الحج، باب طواف الوداع، شمېره (١٧٥٥)، او مسلم په کتاب الحج، باب وجوب طواف الوداع وسقوطه عن الحائض، شمېره (١٣٢٨) کې رانقل کړی دی.

«نو لاړه دې شي». متفق عليه.[1]

او امر يې ورته ونه کړ چې د مسجد دروازې ته لاړه شي، او که چېرته دا کار جايز وای نو ويلي به يې و. خو د حج او عمرې طواف ترې نه ساقطيږي، بلکه هر کله چې پاکه شوه نو کوي به يې.

پنځم حکم: په جومات کې پاتې کېدل: نو پر حائضې باندې په جومات کې پاتې کېدل حرام دي، آن په عيدګاه کې پرې پاتې کېدل حرام دي، د ام عطية رضي الله عنها د حديث له وجې چې هغې له نبي صلى الله عليه وسلم څخه واوريدل چې فرمايل يې:

«يَخْرُجُ الْعَوَاتِقُ وَذَوَاتُ الْخُدُورِ وَالْحُيَّضُ».

«پېغلې، پرده پوښې او حايضې به وځي». او پکې راغلي چې:

«يَعْتَزِلُ الْحُيَّضُ الْمُصَلَّى».

«حايضې دې د لمانځه له ځای څخه لرې پاتې شي». متفق عليه.[2]

---

1 بخاري په كتاب الحج، باب إذا حاضت المرأة بعد ما أفاضت، شمېره (۱۷۵۷)، او مسلم په كتاب الحج، باب وجوب طواف الوداع، شمېره (۱۲۱۱) کې نقل کړی دی.

2 بخاري په كتاب الحيض، باب شهود الحائض العيدين ودعوة المسلمين، ويعتزلن المصلى، شمېره (۳۲۴)، او مسلم په كتاب صلاة العيدين، باب ذكر إباحة خروج النساء في العيدين إلى المصلى وشهود الخطبة، مفارقات للرجال، شمېره (۸۹۰)، نقل کړي دي.

شپږم حکم: جماع ( کوروالی ) په خاوند يې حرام دي چې کوروالی ورسره وکړي، او پر ښځې هم حرام دي چې زمينه ورته برابره کړي؛ د الله تعالی د دې قول له مخې:

﴿وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡمَحِيضِۖ قُلۡ هُوَ أَذٗى فَٱعۡتَزِلُواْ ٱلنِّسَآءَ فِي ٱلۡمَحِيضِ وَلَا تَقۡرَبُوهُنَّ حَتَّىٰ يَطۡهُرۡنَ...﴾

(او پوښتنه کوي دوی له تا نه -اې محمده!- د حيض (د احکامو) په اړه، ته ورته ووايه! دا يوه پليتي ده نو په څنګ (جدا) شئ (له جماع د) ښځو (خپلو) په وخت د حيض کې. او مه نږدې کيږئ! (په جماع سره) دوی ته تر څو پورې چې (ښې) پاکې شي...) [البقرة سورت: ايت ٢٢٢]، او مراد په حيض سره د حيض وخت او ځای دی چې هغه فرج (شرمګاه) ده. او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دغې وينا له مخې:

«اصْنَعُوا كُلَّ شَيْءٍ إِلَّا النِّكَاحَ».

«هر څه وکړئ پرته له نکاح». يعني: جماع. مسلم روايت کړی؛[1] او ځکه پر دې د مسلمانانو اجماع ده چې په شرمګاه کې د حائضې سره يو ځای کېدل حرام دي.

نو روا ندي هيڅ سړي ته چې په الله او د آخرت پر ورځې ايمان لري چې په دې ناروا کار دي اقدام وکړي، هغه چې په منع کېدو يې د الله تعالی کتاب او د هغه د رسول -صلى الله

---

1 مسلم په کتاب الحيض، باب جواز غسل الحائض رأس زوجها، شمېره (٣٠٢) کې نقل کړی.

عليه وسلم- سنت او د مسلمانانو اجماع دلالت کړی وي، (که دا کار وکړي) نو له هغه چا څخه به وي چې د الله او د هغه د رسول مخالفت يې کړی دی، او د مسلمانانو له لارې پرته د بلې پيروي به يې کړي وي په المجموع کې يې ويلي چې د المهذب شرحه ده ٢ ج ٣٧٤ مخ : شافعي رحمه الله فرمايلي دي: «چا چې دا کار وکړ نو په يقيني توګه کبيره ګناه يې وکړه». زمونږ ملګرو (علماوو) او نورو ويلي(١): «چا چې د حائضې سره کوروالی حلال وګڼه د هغه په کافريدو حکم کيږي» وينا يې پای ته ورسيده.

حال دا چې ورته - الحمد لله - روا دي هغه څه چې خپل شهوت پرې پرته له کوروالي څخه مات کړي لکه مچې اخيستل، غيږ کې نيول او يا له شرمګاه پرته له (نورو ځايونو) خوند اخيستل، خو غوره دا ده چې د نوم او زنګنونو تر منځه پرته له حائل (جامې) څخه مباشرت ونکړي. د عائشې رضي الله عنها د قول له مخې:

"كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنِي فَأَتَّزِرُ فَيُبَاشِرُنِي وَأَنَا حَائِضٌ".

«نبي - صلی الله عليه وسلم - به راته امر کاوه نو، ازار به مې کلک وتاړه، بيا به يې راسره مباشرت کاوه پداسې حال

کې چې زه به حائضه وم». متفق علیه.[1]

اووم حکم: طلاق: پر خاوند حرام دي چې حائضې ته د حیض پر مهال طلاق ورکړي؛ د الله تعالی د قول له مخې:

﴿يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاء فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ...﴾

(اې نبي! کله چې تاسي مېرمنې طلاقوئ نو عدت (پیلېدو کې یې طلاقوئ...) [الطلاق سورت: ایت ۱] یعنې په داسې حالت کې چې د طلاق په وخت کې یې د عدت معلوم وخت تر لاسه کړی وي او دا یوازې په هغه صورت کې کیږي چې هغې ته طلاق ورکړي په داسې حال کې چې امیدواره وي او یا پاکه وي پرته د کوروالي څخه؛ ځکه که د حیض په وخت کې طلاق ورکړل شي نو عدت یې نه دی ورکړل شوی، ځکه په کوم حیض کې چې طلاقه شوې ده له عدت څخه نه شمېرل کیږي او که چېرته له جماع څخه وروسته په پاکوالي کې طلاق ورکړل شي نو هغه عدت چې باید تېر یې کړي معلوم به نه وي، ځکه چې دا معلومه نه ده چې آیا لدې جماع څخه حامله شوې، تر څو د حاملې عدت تېر کړي او یا دا چې حمل نه لري، تر څو حیض وشمیر لای شی، نو کله چې د عدت له ډول څخه ډاډ ندی حاصل شوی؛ طلاق پرې حرام دی، تر دې چې خبره معلومه شوې نه وي.

نو د حیض پر مهال د حائضې ښځې طلاقول د تېر آیت په

---

1 بخاري په کتاب الحیض، باب مباشرة الحائض، شمېره (۳۰۱)، او مسلم په کتاب الحیض، باب مباشرة الحائض فوق الإزار، شمېره (۲۹) کې نقل کړی دی.

دليل حرام دي؛ او د هغه څه له امله چې په صحيحينو او نورو کې د ابن عمر له حديث څخه ثابت دي چې هغه خپله ښځه د حيض پر مهال طلاقه کړه، نو عمر پدې کار نبي صلى الله عليه وسلم خبر کړ، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم غصه شو او ويې ويل:

«مُرْهُ فَلْيُرَاجِعْهَا ثُمَّ لِيُمْسِكْهَا حَتَّى تَطْهُرَ، ثُمَّ تَحِيضَ، ثُمَّ تَطْهُرَ، ثُمَّ إِنْ شَاءَ أَمْسَكَ بَعْدُ، وَإِنْ شَاءَ طَلَّقَ قَبْلَ أَنْ يَمَسَّ، فَتِلْكَ الْعِدَّةُ الَّتِي أَمَرَ اللهُ أَنْ تُطَلَّقَ لَهَا النِّسَاءُ».

«امر ورته وکړه چې رجوع ورته وکړي، بيا دې ځان سره وساتي تر څو چې پاکه شي، بيا پرې حيض راشي، بيا پاکه شي، نو بيا يې که غوښتل وروسته دې وساتي او که يې غوښتل نو مخکې لدې چې کوروالی ورسره وکړي طلاقه دې کړي، دا هغه عدت دی چې الله پرې امر کړی چې ښځې يې له مخې طلاقې کړی شي».[1]

نو که يو سړی د حيض پر مهال ښځه طلاقه کړي هغه ګناهکار دی، او ورته په کار دي چې الله تعالى ته توبه وباسي، او ښځه بېرته تر خپلې غاړې کړي ددې لپاره چې د الله او د الله د رسول له امر سره سم شرعي طلاق ورکړي، نو کله يې

1 بخاري په کتاب الطلاق، شمېره (٥٢٥١)، او مسلم په کتاب الطلاق، باب تحريم طلاق الحائض بغير رضاها، وأنه لو خالف وقع الطلاق، ويؤمر برجعتها، شمېره (١٤٧١)، د ابن عمر رضي الله عنهما له حديث څخه نقل کړی دی.

چې تر غاړې کړه هغه دې پرېږدي تر څو له هغه حیض څخه پاکه شي چې طلاق یې پکې ورکړی و، بیا پرې بل ځل حیض راشي، بیا چې کله پاکه شوه نو که یې غوښتل له ځان سره دې پرېږدي او یا یې غوښتل چې له کوروالي مخکې یې طلاقه کړي نو ودې کړي.

او د حیض پر مهال د طلاق له حراموالي څخه درې مسئلې مستثنی دي:

لومړی: کله چې طلاق مخکې له خلوت او کوروالي څخه وي، نو څه خبره نشته که د حیض پر مهال یې طلاقه کړي. ځکه چې ده لره پر هغې کوم عدت نشته، نو طلاق یې د الله تعالی د دې قول پر خلاف نه دی:

﴿...فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ...﴾

(...نو عدت (پیلېدو) کې یې طلاقوئ...) [الطلاق سورت: ایت ۱].

دویمه: کله چې حیض د امیدواری (حمل) په حالت کې وي، او په دې اړه وړاندې څرګندونې وشوې.

دریمه: کله چې طلاق په عوض (بدل) سره وي، نو پروا نه کوي چې د حیض په حالت کې طلاقه کړي.

د بیلګې په توګه که د خاوند او ښځې تر منځ جګړه او ناوړه ژوند و، نو خاوند ترې یو څه عوض اخلي د دې لپاره چې طلاقه یې کړي، نو دا طلاق جایز دی اګر که حائضه هم وي. دلیل یې د ابن عباس - رضي الله عنهما - حدیث دی چې: د

ثابت بن قيس بن شماس ښځه نبي - صلى الله عليه وسلم - ته راغله او ورته یې وویل: ای د الله رسوله! زه هغه په اخلاقو او یا دینداری کې نه ملامتوم، مګر کفر په اسلام کې بد ګڼم، نو نبي صلى الله عليه وسلم وویل:

«أَتَرُدِّينَ عَلَيْهِ حَدِيقَتَهُ؟»

«آیا د هغه باغ ورته بېرته ورکوې؟» هغې وویل: هو. بیا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل:

«اقْبَلِ الْحَدِيقَةَ وَطَلِّقْهَا تَطْلِيقَةً».

«باغچه قبوله کړه او یو طلاق ورکړه» [بخاري روایت کړی].[1]

او پیغمبر صلى الله عليه وسلم د دې پوښتنه ونکړه چې آیا حائضه ده او که پاکه؟ او ځکه چې دا طلاق د ښځې لخوا د ځان فدیه وه، نو د اړتیا پر مهال جایز دی، که په هر حالت کې وي.

په المغني کې د حیض پر مهال د خلعې د روا والي د علت په اړه وايي: ۷ ج ۵۲ مخ: «ځکه کومه منعه چې له طلاق څخه د حیض پر مهال راغلې؛ علت يې هغه ضرر دی چې د عدت په اوږدیدو سره ورته رسیږي، او خلع د هغه ضرر د لمنځه وړلو لپاره ده چې د ناوړه رویې او سپک لیدلو له امله د هغه چا سره رامنځ ته کيږي چې بد يې ګڼي او غصه يې

1 بخاري په کتاب الطلاق، باب الخلع وكيف الطلاق فيه، شمېره (۵۲۷۳) کې، د ابن عباس رضي الله عنهما له حدیث څخه نقل کړی دی.

ورته راځي، او دا کار د عدت د اوږدوالي په پرتله ډېر ضرري دی، نو د غټ ضرر دفع کول په وړوکي سره روا شو، لدې امله پېغمبر صلی الله علیه وسلم د هغې ښځې د حالت پوښتنه ونکړه چې ځان يې خلاصاوه».

او د حيض پر مهال په ښځې نکاح تړلو کې کومه خبره نشته، ځکه چې اصل جواز دی، او په منعه کولو يې هيڅ دليل نشته، مګر د حيض پر مهال د خاوند پر وننوتلو کې بايد ولیدل شي که چېرته ډاډ موجود وو چې ورسره نه يو ځای کيږي نو کومه خبره نشته چې ورننوځي، او که ډاډ نه و موجود نو ندې ورننوځي تر دې چې پاکه شي، لدې ويرې هسې نه چې په حرام کې واقع شي.

اتم حکم: په حېض سره د طلاق عدت ته اعتبار ورکول: نو کله چې سړي خپله ښځه طلاقه کړه وروسته لدې چې ورسره يو ځای شو او يا يې ورسره خلوت وکړ نو پرې واجب دي چې پوره درې حېضونه عدت پرې تېر کړي، که چېرته د حيض والا وه او حمل يې نه درلوده؛ د الله تعالی د دې قول له امله:

﴿وَٱلۡمُطَلَّقَٰتُ يَتَرَبَّصۡنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٖ...﴾

(او طلاقې کړی شوې ښځې دې انتظار کوي په ځانونو خپلو (له نکاح نه تر) درې حيضونو (کاملو) پورې...) [البقرة سورت: ايت ۲۲۸]، يعنې: درې حيضونه. نو که چېرته حامله وه، عدت يې د حمل تر پوره زيږولو پورې دی، برابره ده که دا موده لنډه او يا اوږده شي؛ دليل يې د الله تعالی دا قول دی:

﴿...وَأُوْلَاتُ الأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ...﴾

(...او د حامله ښځو د عدت حد دا دی چې هغوی حمل وضع کړي...) [الطلاق سورت: ایت ۴]، او که چېرته د حیض له خاوندانو نه وه، لکه کوچنۍ ماشومه چې حیض پرې نه وي پیل شوی، او یا هغه د زیات عمر له امله له حیض څخه نا امیده شوې وي، یا دا چې په عملیاتو سره یې رحم لرې کړی وي او داسې نور کارونه چې د حېض راتللو تمه ورسره نه کیږي، نو د دا ډول ښځو عدت درې میاشتې دی؛ الله تعالی فرمایلي:

﴿وَاللَّائِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ مِن نِّسَائِكُمْ إِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ وَاللَّائِي لَمْ يَحِضْنَ...﴾

(او ستاسې له مېرمنو څخه چې کومې له حیضه ناهیلې شوې وي د هغوی په اړه که تاسې شکمن شوي یاست نو د هغوی عدت درې میاشتې دی، او همدغه حکم د هغو ښځو دی چې لا تر اوسه یې حیض نه وي راغلی...) [الطلاق سورت: ایت ۴]، او که چېرته د حیض له خاوندانو څخه وه خو حیض یې د یو معلوم سبب له وجهې لکه ناروغتیا او رضاعت (ماشوم ته شېده ورکولو) له امله نه راته، نو هغه به عدت کې پاتې کیږي اګر که موده یې اوږده شي تر دې چې حیض پرې راشي نو عدت به پرې تېر کړي، او که چېرته سبب لرې شو او حیض را نه غی، داسې چې له ناروغتیا څخه جوړه شوه او یا یې رضاعت پای ته ورسیده او حیض لا نه دی راغلی

نو بايد د علت له ختميدو نه وروسته پوره يو كال عدت تېر كړي، او همدا صحيح قول دى، چې د شريعت له قواعدو سره اړخ لګوي، ځكه چې كه علت لرې شي او د هغې حيض لا نه وي راغلى نو دا د هغه چا په څېر شوه چې حيض يې د نامعلوم دليل لپاره ودرېدلى وي، نو دا به پوره يو كال عدت تيروي؛ نـهه مياشتې د اميدوارۍ لپاره د احتياط له مخې؛ ځكه چې ډېرى وختونه حمل همدومره وي او درې مياشتې د عدت لپاره.

خو كه چېرته طلاق د (نكاح) له عقد نه وروسته او د كوروالي او يا خلوت نه مخكې و، نو پدې كې بيخې عدت نشته، نه په حيض او نه په بل څه سره؛ د الله تعالى د دې قول له امله:

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا...﴾

(اې مومنانو كله چې تاسي مومنانې په نكاح كړئ بيا يې طلاقې كړئ مخكې له دې چې لاس ور وړئ (كوروالى وكړئ) نو بيا تاسي لپاره پر هغوى كوم عدت نشته چې شمېرئ به يې...) [الأحزاب سورت: آيت ۴۹].

نـهم حكم: د رحم په پاكوالي حكم، يعنې: چې حمل په كې نشته، او هر كله چې د رحم پر پاكوالي حكم كولو ته اړتيا پيدا كيږي نو دېته بيا اړتيا ليدل كيږى، او په دې كې مسألې دي:

لدې څخه: كله چې يو سړى مړ شو او ښځه ترې پاتې شوه

- نو د دې ښځې په ګېډه کې ماشوم لدې مړي څخه میراث وړي،- او دې ښځې (بل) خاوند وکړ، نو دا خاوند به ورسره کوروالی نه کوي تر څو چې حیض شوي نه وي، یا دا چې حمل یې ښکاره شي، نو که چېرته یې حمل ښکاره شو نو (حمل ) ته په مېراث وړلو پرېکړه کوو، ځکه چې د موروث د مړیني پر مهال د ده په شتون پرېکړه کوو، او که چېرته پرې حیض راغی نو پرېکړه کوو چې د میراث مستحق ندی، ځکه چې مونږ پرېکړه وکړه چې رحم یې په حیض سره پاک شوی دی.

لسم حکم: د غسل واجبېدل: نو پر حائضې؛ چې کله پاکه شوه د ټول بدن په وینځلو سره غسل کول واجب دي؛ فاطمې بنت أبي حُبیش ته د نبي صلی الله علیه وسلم د وینا له امله:

«فَإِذَا أَقْبَلَتِ الْحَيْضَةُ فَدَعِي الصَّلَاةَ، وَإِذَا أَدْبَرَتْ فَاغْتَسِلِي وَصَلِّي».

«کله چې حیض راغی نو لمونځ پرېږده، او کله چې لاړ نو غسل وکړه او لمونځ وکړه». [بخاري روایت کړی].[1]

تر ټولو لږ واجب په غسل کې دا دي چې ټول بدن ته اوبه ورسېږي، آن د وېښتانو لاندې ځایونو ته، او غوره دا ده چې هغه ډول غسل وشي لکه په حدیث کې چې راغلی دی. له نبي - صلی الله علیه وسلم - څخه، کله چې أسماء بنت شَکَل ورڅخه د حیض د غسل په اړه پوښتنه وکړه، هغه صلی الله

[1] بخاري په کتاب الحیض، باب إقبال المحیض وإدباره، شمېره (۳۲۰)، او مسلم په کتاب الحیض، باب المستحاضة وغسلها وصلاتها، شمېره (۳۳۳)، د عائشې رضي الله عنها له حدیث څخه روایت کړي دي.

عليه وسلم وفرمايل:

«تَأْخُذُ إِحْدَاكُنَّ مَاءَهَا وَسِدْرَتَهَا فَتَطَهَّرُ فَتُحْسِنُ الطُّهُورَ، ثُمَّ تَصُبُّ عَلَى رَأْسِهَا فَتَدْلُكُهُ دَلْكًا شَدِيدًا، حَتَّى تَبْلُغَ شُؤُونَ رَأْسِهَا، ثُمَّ تَصُبُّ عَلَيْهَا الْمَاءَ، ثُمَّ تَأْخُذُ فِرْصَةً مُمَسَّكَةً -أَيْ: قِطْعَةَ قُمَاشٍ فِيهَا مِسْكٌ- فَتَطَهَّرُ بِهَا».

«ستاسو څخه يوه دې اوبه او بېره راواخلي او ځان دې پرې په ښه توګه پاک کړي، بيا دې په سر اوبه واړوي او کلک دې ومږي تر دې چې د ويښتانو بېخونو ته (اوبه) ورسيږي، بيا دې پرې اوبه واچوي، بيا دې د ټوټې يوه ټکه يعنې چې مشک پکې وي - راواخلي - او ځان دې پرې پاک کړي، اسماء وويل: څنګه پرې ځان پاک کړي؟ نو ويې ويل: «سُبْحَانَ اللهِ!»

"پاکي ده الله تعالی لره!" نو عائشې ورته وفرمايل: د وينې اثر به خاري. (مسلم په (۵۴) شميره روايت کړی دی).[1]

او د ويښتانو سپړل واجب نه دي، مګر دا چې کلک تړل شوي وي، چې دا ويره وي هسې نه چې اوبه يې بېخونو ته ونه رسيږي. دليل يې په صحيح مسلم کې د أم سلمة رضی الله

1 بخاري په کتاب الحيض، باب غسل المحيض، شميره (۳۱۵)، او مسلم په کتاب الحيض، باب استحباب استعمال المغتسلة من الحيض فرصة من مسك في موضع الدم، شميره (۳۳۲)، د عائشې رضي الله عنها له حديث څخه نقل کړی دی.

عنها حديث دی چې هغې له نبي صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه نو ويې ويل: زه يوه ښځه يم چې ويښتان مې کلکوم (کمڅي کوم) نو آيا ويښتان مې د جنابت د غسل پر مهال پرانيزم؟ او په بل روايت کې دي: د حيض او جنابت له غسل څخه؟ نو ويې وييل:

«لَا، إِنَّمَا يَكْفِيكِ أَنْ تَحْثِيَ عَلَى رَأْسِكِ ثَلَاثَ حَثَيَاتٍ ثُمَّ تُفِيضِينَ عَلَيْكِ الْمَاءَ فَتَطْهُرِينَ».

«نه، بسنه کوي چې په سر دې درې لپې اوبه واړوې بيا دې په ټول بدن اوبه تېرې کړه نو پاکه به شې».[1]

او کله چې حائضه د لمانځه د وخت پر مهال پاکه شوه نو پرې واجب دي چې د غسل په کولو کې بيړه وکړي تر څو لمونځ په خپل وخت کې ومومي، نو که چېرته په سفر کې وه او اوبه ورسره نه وې او يا ورسره اوبه وې خو په کارولو يې له ضرر څخه ويرېدله، او يا ناروغه وه چې اوبو ورته ضرر رساوه، نو هغه دې د غسل پر ځای تيمم وکړي تر څو ممانعت لرې شي بيا دې غسل وکړي.

او ځنې ښځې د لمانځه د وخت پر مهال پاکې شي خو غسل کول بل وخت ته وروسته کوي او وايي: پدې وخت کې نشي کولی پوره ځان پاک کړي، خو دا نه دليل دی او نه عذر؛ ځکه هغه کولای شي چې په غسل کې لږ واجب باندې بسنه وکړي،

---

1 مسلم په کتاب الحيض، باب حکم ضفائر المغتسلة، شمېره (۳۳۰) کې د أم سلمة رضي الله عنها د حديث څخه نقل کړی.

او لمونځ په خپل وخت کې ادا کړي، بیا چې وخت په لاس ورغی ځان دې په پوره توګه پاک کړي.

## پنځم څېرکی: د استحاضې او د هغې د حکمونو په اړه

استحاضه: په پرلپسې توګه په ښځینه باندې د وینې راتلل دي چې هیڅکله ورځخه نه پرې کیږي، یا ورځخه د لنډ مهال لپاره پرې شي لکه په میاشت کې یوه او یا دوه ورځې.

نو د لومړي حالت دلیل چې هیڅ ورځخه نه پرې کیږي هغه (حدیث) دی چې په صحیح البخاری کې له عائشې رضي الله عنها څخه ثابت دی چې فرمایي: فاطمې بنت أبي حبیش رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل:

"يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي لَا أَطْهُرُ".

"ای د الله رسوله! زه هیڅ نه پاکیږم". او په یو روایت کې دي:

"أَسْتَحَاضُ فَلَا أَطْهُرُ".

"زه استحاضه کیږم او نه پاکیږم".[1]

او د دویم حالت دلیل چې وینه پکې نه پرې کیږي مګر دیره لږه؛ د حمنة بنت جحش حدیث دی چې نبي - صلی الله علیه وسلم - ته راغله او ویې ویيل:

---

1 بخاري په کتاب الوضوء، باب غسل الدم، شمېره (۲۲۸)، او مسلم په کتاب الحیض، باب المستحاضة وغسلها وصلاتها، شمېره (۳۳۳)، د عائشې رضي الله عنها له حدیث څخه نقل کړی دی.

"يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي أَسْتَحَاضُ حَيْضَةً كَثِيرَةً شَدِيدَةً".

«اى د الله رسوله! زه ډیره سخته حېض کیږم» [احمد، ابوداود او ترمذي روایت کړی دی، او صحیح یې بللی دی، او د امام احمد تصحیح او د بخاري تحسین یې رانقل کړی دی].[1][2]

**د استحاضې حالتونه:**

پر استحاضې اخته ښځه دري حالتونه لري:

لومړی صورت: دا چې له استحاضې مخکې یې حیض معلوم وي، نو دا د هغې د حیض پخوانۍ معلومې دورې ته ورګرځي، نو په هغې کې کښېني (له عبادتونو لاس نیسي) او د حیض احکام ورته ثابتیږي او له دې مودې پرته نور استحاضه ده، د استحاضې حکمونه ورته ثابتیږي.

د دې بېلګه: يوه ښځه چې د هرې میاشتې په سر کې به یې شپږ ورځې حیض راته، بیا پرې ناڅاپه استحاضه راغله، نو وینه پرې پرلپسې راتله، نو د دې حیض له هرې میاشتې لومړۍ شپږ ورځې دی، او لدې پرته د استحاضې (وینه) ده؛ دلیل یې د عائشې رضي الله عنها حدیث دی چې فاطمې بنت

---

1 سنن الترمذي: أبواب الطهارة، باب في المستحاضة أنها تجمع بين الصلاتين بغسل واحد، د حديث شمېره (۱۲۸) ورپسې.

2 احمد (۶/۳۴۹)، او ابو داود: كتاب الطهارة، باب من قال إذا أقبلت الحيضة تدع الصلاة، شمېره (۲۸۷)، او ترمذي: أبواب الطهارة، باب في المستحاضة أنها تجمع بين الصلاتين بغسل واحد، شمېره (۱۲۸) د حمنة بنت جحش رضي الله عنها له حديثه روايت كړی دی.

أبی حُبيش وويل: ای د الله رسوله! زه داسې حائضه کیږم چې نه پاکیږم، نو آیا لمونځ پریږدم؟ ویې ویل:

«لَا، إِنَّ ذَلِكَ عِرْقٌ، وَلَكِنْ دَعِي الصَّلَاةَ قَدْرَ الْأَيَّامِ الَّتِي كُنْتِ تَحِيضِينَ فِيهَا ثُمَّ اغْتَسِلِي وَصَلِّي».

«نه، هغه رګ دی، خو د هغو ورځو په اندازه لمونځ پرېږده څومره به چې مخکې حيض کېدلې، بيا غسل وکړه او لمونځ کوه». بخاري روايت کړی.[1]

او د مسلم په صحيح کې دي چې نبي صلى الله عليه وسلم أم حبيبې بنت جحش ته وويل:

«امْكُثِي قَدْرَ مَا كَانَتْ تَحْبِسُكِ حَيْضَتُكِ ثُمَّ اغْتَسِلِي وَصَلِّي».

«تر هغه وخته پورې پاتې شه څومره به چې حيض ايسارولې بيا غسل وکړه او لمونځ وکړه».[2]

په دې اساس هغه ښځه چې حيض يې معلوم وي بايد د حيض په موده کې کښېني، بيا دې غسل وکړي او لمونځ دې وکړي او په دې وخت کې دې د وينې پروا نه کوي.

دويم صورت: چې له استحاضې مخکې يې حيض معلوم نه وي، داسې چې له اول نه پرې(د استحاضې) وينه په

1 بخاري په کتاب الحيض، باب الحيض، وما يصَدَّقُ النساءُ في الحيض والحمل، فيما يمكن من الحيض، شمېره (٣٢٥)، د عائشة رضي الله عنها له حديث څخه روايت کړی دی.

2 مسلم په کتاب الحيض، باب المستحاضة وغسلها وصلاتها، شمېره (٣٣٤)، د عائشې رضي الله عنها له حديث څخه نقل کړی.

دوامداره توګه راځي، نو دا به د وينې حالت ته ګوري، هغه چې توره، ټينګه او بدبويه وه؛ د حيض حکمونه ورته ثابتيږي، او لدې پرته استحاضه ده، د استحاضې حکمونه ورته ثابتيږي.

د دې بېلګه يوه ښځه ده چې د لومړي ځل لپاره يې چې وينه وليده، او پرلپسې پرې راتله، مګر لس ورځې يې توره ګوري، او پاتې مياشت يې سره ګوري، يا يې لس ورځې ټينګه ګوري او پاتې مياشت نرۍ، او يا يې لس ورځې بد بويه ګوري لکه د حيض وينه او پاتې مياشت بوي نه لري، نو دا په لومړي مثال کې تور حيض په دويم مثال کې ټينګ او په دريم مثال کې بدبويه حيض دی، او لدې پرته استحاضه ده. دليل يې فاطمې بنت أبي حُبيش ته د نبي - صلى الله عليه وسلم - وينا ده:

«إِذَا كَانَ دَمُ الْحَيْضَةِ فَإِنَّهُ أَسْوَدُ يُعْرَفُ، فَإِذَا كَانَ ذَلِكَ فَأَمْسِكِي عَنِ الصَّلَاةِ فَإِذَا كَانَ الْآخَرُ فَتَوَضَّئِي وَصَلِّي؛ فَإِنَّمَا هُوَ عِرْقٌ».

«که چېرته د حيض وينه وي هغه توره ده پېژندل کيږي، نو که داسې وه لمونځ پريږده، که چېرته بله وه نو اودس وکړه او لمونځ وکړه؛ ځکه چې هغه يو رګ دی». ابو داود او نسائي روايت کړی دی، او ابن حبان او الحاکم صحيح بللی دی.[1]

---

1 أبو داود په کتاب الطهارة، باب من قال إذا أقبلت الحيضة تدع الصلاة، شمېره (۲۸۶)، او نسائي په کتاب الطهارة، باب ما جاء في المستحاضة التي قد علمت أيام أقرائها، قبل أن يستمر بها الدم، شمېره (۲۱۱)، او ابن ماجه په

دا حديث سره لدې چې په سند او متن کې يې خبره شته خو بيا هم علماوو - رحمهم الله - پرې عمل کړی، او لدې به ښه وي چې د ښځو غالب عادت ته وروګرځول شي.

دريم صورت: چې معلوم حيض و نه لري او نه سم توپير کولی شي، داسې چې وينه له لومړي سر څخه په پرلپسې توګه په يوه بڼه راځي او يا ګډوډې بڼې لري نو دا امکان نه لري چې حيض به وي، نو پداسې حال کې د ښځو غالب حالت باندې عمل کيږي، داسې چې له هرې مياشتې څخه به يې حيض شپږ يا اووه ورځې وي، له هغه مهاله به پيليږي چې وينه پکې وګوري، او لدې پرته استحاضه ده.

د دې مثال دا دی چې د مياشتې په پنځمه لومړی وينه وګوري پرته لدې چې د وينې سم توپير پکې وکړای شي؛ نه د رنګ او نه د بل څه له مخې، نو حيض به يې له هرې مياشتې شپږ يا اوه ورځې وي چې هر ځل به د مياشتې له پنځمې نېټې څخه پيل کيږي. له حمنة بنت جحش رضی الله عنها څخه روايت دی هغې وويل: ای د الله رسوله! زه ډېره لويه او سخته حيض کيږم، نو په دې اړه څه فکر کوې؟ د لمانځه او روژې څخه يې منع کړې يم، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

---

کتاب الطهارة وسننها، باب ما جاء في المستحاضة التي قد علمت أيام أقرائها، قبل أن يستمر بها الدم، شمېره (۶۲۰)، او ابن حبان په خپل صحيح (۱۳۴۸) کې، او حاکم په المستدرک (۶۱۸) کې له عائشې رضي الله عنها څخه روايت کړي دي.

«أَنْعَتُ لَكِ (أَصِفُ لَكِ اسْتِعْمَال) الْكُرْسُفَ (وهُوَ القُطْنُ) تَضَعِينَهُ عَلَى الْفَرْجِ، فَإِنَّهُ يُذْهِبُ الدَّمَ».

«زه تاسو ته د کُرسف کارول بیانوم (چې پنبه ده) او تاسو يې په شرمګاه ږدئ، هغه وينه لرې کوي»، هغې وفرمايل: هغه لدې نه زياته ده. او په اړه يې وفرمايل:

«إِنَّمَا هَذَا رَكْضَةٌ مِنْ رَكَضَاتِ الشَّيْطَانِ، فَتَحَيَّضِي سِتَّةَ أَيَّامٍ أَوْ سَبْعَةً فِي عِلْمِ اللهِ تَعَالَى، ثُمَّ اغْتَسِلِي حَتَّى إِذَا رَأَيْتِ أَنَّكِ قَدْ طَهُرْتِ وَاسْتَنْقَيْتِ فَصَلِّي أَرْبَعًا وَعِشْرِينَ أَوْ ثَلَاثًا وَعِشْرِينَ لَيْلَةً وَأَيَّامَهَا وَصُومِي».

«دا خو د شيطان يو تېله ده، نو د الله تعالى په علم کې شپږ يا اوه ورځې ځان حايضه وګڼه، بيا غسل وکړه، او کله چې دې وليدل چې پاکه او صافه شوې يې، نو څليشت يا درويشت شپې او ورځې لمونځ کوه او روژه نيسه». حديث. [احمد، ابو داود او ترمذي روايت کړی او ترمذي صحيح ګڼلی دی، او له احمد څخه نقل شوي چې هغه يې صحيح، او له بخاري څخه چې هغه يې حسن ګڼلی دی].[٢١]

او د پيغمبر - صلى الله عليه وسلم دا قول: (شپږ ورځې او

---

1 سنن الترمذي: أبواب الطهارة، باب في المستحاضة أنها تجمع بين الصلاتين بغسل واحد، د حديث شمېره (١٢٨) په تعقيب کې.

2 احمد (٦/ ٤٣٩)، او ابو داود په کتاب الطهارة، باب من قال إذا أقبلت الحيضة تدع الصلاة، شمېره (٢٨٧)، او ترمذي په أبواب الطهارة، باب في المستحاضة أنها تجمع بين الصلاتين بغسل واحد، شمېره (١٢٨) کې نقل کړی، د حمنة بنت جحش رضي الله عنها له حديث څخه.

اووه) د اختیار لپاره نه بلکي اجتهاد دی، نو هغه څه چې د هغې حالت ته نږدې وي له هغه چا څخه چې د دې سره په پېدایښت، عمر او خپلولۍ کې ورته والی ولري، او په هغه څه کې چې دې ته د حیض په وینه کې نږدې والی ولري او داسې نور هغه چې اعتبار ورته ورکول کیږي. نو که چېرته دې ته نږدې وه چې شپږ وي نو شپږ ورځې دې ونیسي، او که چېرته اوو ته نږدې وه نو (حیض) دې اووه ورځې وګرځوي.

## د هغه چا حالت چې مستحاضې ته ورته والی ولري:

کله ښځینه ته داسې یو سبب پیدا شي چې له امله یې له شرمګاه څخه وینه راځي لکه په رحم کې عملیات او یا بل څه، او دا دوه ډوله دي:

لومړی ډول چې: پدې پوهه شي چې شونې نده د عملیات نه وروسته حیض شي، د بیلګې په توګه له بیخه د رحم ویستل او یا بندول یې پداسې ډول چې وینه ترې رانشي، نو دې ښځې ته د مستحاضې احکام نه ثابتیږي، بلکې حکم یې د هغه چا دی چې زیږوالی، خړوالی او یا لوندوالی له پاکوالي څخه وروسته وګوري، نو لمونځ او روژه به نه پریږدي او له جماع کولو هم منع کولی نه شي، او له دې وینې څخه غسل نه واجبیږي، بلکې د لمانځه پر مهال ورباندې د وینې وینځل حتمي دي، او په شرمګاه دې یو تکه او یا بل څه وروتړي، تر څو د وینې د راوتلو مخنیوی وشي، بیا دې لمانځه ته اودس وکړي، او اودس به ورته نه کوي تر هغه چې وخت یې نه وي داخل شوی، که چېرته ورته وخت و، لکه پنځه وخته

لمونځونه، له دې پرته يې چې هر لمونځ کول غوښتل لکه مطلق نفلي لمونځونه (نو تازه اودس دې ورته کوي).

دويم ډول: پدې نه پوهيږي چې له عمليات څخه وروسته به يې وينه ودريږي، بلکې کيدی شي حيض شي، نو د دې حکم د مستحاضې حکم دی، او څه چې وويل شول دليل يې فاطمة بنت أبی حبيش ته د پيغمبر - صلی الله عليه وسلم - وينا ده:

«إِنَّمَا ذَلِكَ عِرْقٌ وَلَيْسَ بِالْحَيْضَةِ، فَإِذَا أَقْبَلَتِ الْحَيْضَةُ فَاتْرُكِي الصَّلَاةَ».

«هغه يو رګ دی او حيض ندی، نو کله چې حيض راغی نو لمونځ پريږده».[1]

او د هغه دا قول:

«فَإِذَا أَقْبَلَتِ الْحَيْضَةُ».

«نو کله چې حيض راغی» پدې معنا ده چې د مستحاضې حکم د هغه چا لپاره چې حيض پرې راځي شوني ده چې پرې راشي او لاړ شي، خو هغه څوک چې حيض پرې نه راځي نو په هر حالت کې يې وينه رګ دی.

---

1 بخاري په کتاب الوضوء، باب غسل الدم، شمېره (٢٢٨)، او مسلم په کتاب الحيض، باب المستحاضة وغسلها وصلاتها، شمېره (٣٣٣)، د عائشې رضي الله عنها له حديث څخه نقل کړي دي.

**د استحاضې أحکام:**

له پورتني مطلب څخه معلومه شوه چې وينه کله حيض وي؟ او کله استحاضه وي؟ نو کله چې حيض وه، نو د حيض احکام ورته ثابتيږي او کله چې استحاضه وه نو د هغې لپاره د استحاضې احکام ثابتيږي .

او وړاندې د حيض مهم حکمونه تېر شول.

او د استحاضې حکمونه لکه د پاکوالي حکمونه دي، نو هيڅ توپير د مستحاضو او پاکو تر منځ نشته مګر په هغه څه کې چې لاندې راځي:

لومړی: د هر لمانځه لپاره پرې د اودس واجبېدل، فاطمې بنت أبي حُبيش ته د نبي صلی الله عليه وسلم د وينا له امله:

«ثُمَّ تَوَضَّئِي لِكُلِّ صَلَاةٍ».

«بيا د هر لمانځه لپاره اودس وکړه». دا حديث امام بخاري د وينې مينځلو په باب کې روايت کړی دی، د دې معنې دا ده چې اودس به نه کوي د هغه لمانځه د پاره چې د هغې د پاره مقرر وخت وي مګر وروسته د وخت له داخلېدو څخه. که چيرته داسې لمونځ و چې هغې لره وخت مقرر نه و، نو هر کله يې چې د لمونځ کولو اراده وکړه اودس دې ورته وکړي.

دويم: کله يې چې اودس کاوه نو د وينې اثر به وينځي او شرمګاه به کلکه په مالوچو او تکې سره بندوي تر څو وينه ونيسي؛ د نبي - صلی الله عليه وسلم - د هغه قول له امله چې حمنة ته يې فرمايلي دي:

«أَنْعَتُ لَكِ الْكُرْسُفَ فَإِنَّهُ يُذْهِبُ الدَّمَ». قَالَتْ: فَإِنَّهُ أَكْثَرُ مِنْ ذَلِكَ. قَالَ: «فَاتَّخِذِي ثَوْبًا». قَالَتْ: هُوَ أَكْثَرُ مِنْ ذَلِكَ. قَالَ: «فَتَلَجَّمِي».

« كرسف(مالوچ) درته يادوم، ويې كاروئ ځكه هغه وينه لرې كوي». هغې وويل: هغه وينه له هغه نه هم ډيره وي. ويې ويل: «نو ټوټه ونيسه». ويې ويل: له هغه نه هم ډيره وي. ويې ويل: «نو ځان كلک وتړه». حديث، او كه لدې وروسته بيا هم څه راوځي نو پروا نه كوي، دليل يې فاطمه بنت أبى حبيش ته د نبي - صلى الله عليه وسلم وينا ده:

«اجْتَنِبِي الصَّلَاةَ أَيَّامَ حَيْضِكِ، ثُمَّ اغْتَسِلِي وَتَوَضَّئِي لِكُلِّ صَلَاةٍ، ثُمَّ صَلِّي، وَإِنْ قَطَرَ الدَّمُ عَلَى الْحَصِيرِ».

«د حيض په ورځو كې د لمانځه څخه ډډه وكړه، بيا غسل وكړه او هر لمانځه ته اودس وكړه، بيا لمونځ كوه، اګر كه وينه درڅخه په پوزكي هم څڅېدله». احمد او ابن ماجه روايت كړى دى.[1]

دريم: كوروالى، علما يې د جواز په اړه سره اختلاف لري كله چې په زنا كې د واقع كېدو ويره موجوده نه وي، خو صحيح دا ده چې مطلقا روا ده، ځكه ډيرى ښځې چې لسو ته رسيږي او يا زياتې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په وخت كې استحاضه شوې وې ، نو نه الله او نه يې رسول د هغوى

---

1 احمد (۶/ ۲۰۴)، او ابن ماجه په كتاب الطهارة وسننها، باب ما جاء في المستحاضة التي قد عدت أيام أقرائها، قبل أن يستمر بها الدم، شمېره (۶۲۴) كې د عائشة رضي الله عنها له حديث څخه روايت كړى دي.

سره له جماع کولو منعه فرمايلي ده، بلکې د الله تعالی پدې قول کې:

﴿...فَاعْتَزِلُواْ النِّسَاء فِي الْمَحِيضِ...﴾

(...نو په څنګ (جدا) شئ (له جماع د) ښځو (خپلو) په وخت د حيض کې...) [البقرة:٢٢٢] پدې دلالت کوي چې پرته له هغه (حيض) نه ترې ډېره کول واجب نه دي، او ځکه چې لمونځ ورته روا دی، نو کورالی خو آسان دی، او ورسره کوروالی د حائضې سره په کوروالي کولو قياس کول سم نه دي، ځکه هغه څوک يې چې تحريموي د هغوی په اند سره برابر نه دي، او قياس د توپير سره نه صحيح کيږي.

## شپږم څپرکی: د ولادت دوره (نفاس) او احکام يې

نفاس: هغه وينه ده چې رحم يې د ماشوم د پيدايښت له امله پريږدي، يا له هغې سره يوځای، يا ورڅخه وروسته، يا دوه او يا درې ورځې مخکې له درد سره.

او شيخ الاسلام ابن تيمية ويلي: «هغه چې د درد دپيلېدو سره يې ګوري نو هغه نفاس دی». او په دوو او دريو ورځو يې محدود نه کړه، او هدف يې: درد چې ورپسې زيږون وي، کنه نو نفاس نه ده، او علما اختلاف لري چې آيا ډيره او يا لږه اندازه يې شته کنه؟. شيخ تقي الدين په خپل کتاب کې چې د هغو نومونو په اړه چې شريعت ورپورې حکمونه تړلي دي ويلي: (مخ:٣٧): «د نفاس نه لږه اندازه او نه يې ډير اندازه حد لري، که چېرته فرض کړای شي چې يوې ښځې څلوېښت، يا شپېته او يا اويا ورځې وينه وليده او بيا پرې شوه، نو هغه

نفاس ده، خو که چېرته لدې هم اوږه شوه نو هغه د ناروغۍ وینه ده، نو بیا هغه مهال یې حد څلوېښت ورځې دی، ځکه ډېری ښځې یې چې ګوري وروستی نېټه یې همدومره وي او روایات پرې هم راغلي دي». وینا یې پای ته ورسیده.

ما وویل: په دې اساس، که چېرته یې وینه له څلویښتو زیاته شوه، او عادت یې داسې و چې په دې به پرې کېدله، او یا دا چې د پرې کېدولو د رانږدې کېدو نښې پکې ښکاره شوې، نو انتظار دې شي تر څو پرې شي، کنه د څلوېښتو په پوره کېدو سره دې غسل وکړي؛ ځکه اکثریت همداسې وي مګر دا چې د نفاس سره یې د حیض وخت راورسیږي نو بیا به هم انتظار وباسي تر څو یې د حیض وخت هم پای ته ورسیږي، که چېرته له هغې وروسته پرې شوه، نو ورته په کار دي چې د عادت په څېر یې وګڼي، او په همدې حساب به راتلونکي کې هم عمل کوي، او که چېرته یې دوام وموند نو هغه مستحاضه ده، نو د استحاضې تېرو حکمونو ته دې وروګرځي، او که چېرته د وینې په پرې کېدلو سره پاکه شوه نو هغه پاکه ده اګر که له څلوېښتو مخکې وي، نو غسل به کوي، لمونځ به کوي، روژه به نیسي او خاوند به یې ورسره کوروالی کوي، مګر دا چې د وینې پرې کېدل له یوې ورځې نه د کمې مودې لپاره وي بیا ورته حکم نشته، په المغني کې یې ویلي دی.[1]

او نفاس نه ثابتیږي مګر هغه مهال چې داسی یو شی وزیږوي چې د انسان صورت په کې ښکاري، که چېرته یې

1 المغني (۲۵۲/۱-۲۵۳).

دومره کوچنی وغورځاوه چې د انسان شکل په کې نه ښکارېده نو بیا یې وینه د نفاس وینه نه ده، بلکه هغه به درګ وینه وي، او حکم به یې د مستحاضې حکم وي، او تر ټولو لږه موده چې د انسان شکل په کې لیدل کیدلی شي د امیدوارۍ له پیل څخه اتیا ورځې دي او ډیری وختونه نوي ورځې وي.

المجد ابن تیمیة ویلي: هر کله یې چې وینه ولیده او مخکې ترې یوه ورځ درد و نو پروا دې نه کوي او که وروسته ترې درد و نو لمونځ دې نه کوي او روژه دې نه نیسي، بیا چې له زیږون څخه وروسته خبره معلومه شوه او د ظاهري حالت خلاف وه بیرته دې وګرځي او لمونځونه دې لاندې کړي، او که چېرته یې خبره معلومه نشوه هغه څه چې ظاهري حکم وي پر همغه دې مخکې لاړه شي بیا پرې راګرځول نشته. له هغه یې په شرح الاقناع کې رانقل کړي دي.[1]

**د نفاس أحکام:**

د نفاس حکمونه کټ مټ لکه د حیض د حکمونو په څېر دي مګر په لاندې حالتونو کې:

لومړی عدت دی: چې په طلاق سره اعتبار ورکول کیږي نه په نفاس سره، ځکه که چېرته طلاق د حمل له زیږون څخه مخکې و نو عدت به یې په زیږون سره پوره کیږي نه په نفاس سره، او که چېرته طلاق وروسته له زیږون څخه و نو انتظار به کوي تر څو پرې حیض راشي لکه وراندې چې تېر شو.

1 کشاف القناع (١/٢١٩)

دوهم: د ایلاء موده ده چې له هغې څخه د حیض موده محاسبه کیږي او د زیږون څخه وروسته دوره ترې نه محاسبه کیږي.

او ایلاء دېته وایي چې: یو سړی د خپلې ښځې سره د تل لپاره او یا دومره مودې لپاره چې له څلورو میاشتو زیاتیږي د کوروالي د پرېښودلو قسم یاد کړي، نو کله یې چې قسم وکړ او هغې ورڅخه د کوروالي غوښتنه وکړه، نو څلور میاشتې وخت ورته ټاکل کیږي، نو کله چې پوره شوې په کوروالي کولو او یا د ښځې په غوښتنه په جداوالي سره مجبوریږي، نو په دې موده کې که په ښځه نفاس تېر شو په خاوند نه حسابیږي، او همدومره موده به په څلورو میاشتو ور اضافه کیږي، د حیض پر خلاف چې د هغې موده په خاوند حسابیږي.

دریم: بلوغ ته رسیدل په حیض سره کیږي نه په نفاس سره؛ ځکه شونې نده چې ښځه دې حامله شي تر څو حایضه شوې نه وي، نو بلوغ ته رسیدل له امیدوارۍ څخه وړاندې په انزال سره کیږي.

څلورم: د حیض وینه چې کله پرې شوه او بیا د عادت له مخې راغله نو هغه په یقیني توګه حیض دی، دبیلګې په توګه چې د عادت له مخې یې مریضې اته ورځې وي، خو حیض څلور ورځې وګوري، بیا دوه ورځې پرې شي، بیا په اوومه او اتمه بیرته راوګرځي، نو دا راګرځیدونکی په یقیني توګه حیض دی، د حیض حکمونه ورته ثابتیږي، او د نفاس وینه چې کله له څلویښتو څخه مخکې ودریده او بیا په څلوېښتو

راغله نو په هغې کې شک دی نو پرې واجب دي چې لمونځ وکړي او فرضي ټاکلې روژه په خپل وخت سره ونیسي، او هر څه چې په حایضې حرام وي پدې هم حرامیږي پرته له واجباتو څخه او له پاکوالي وروسته به د هغه څه قضایي راوړي چې پدې وینه کې یې کړي دي له هغه څه نه چې په حایضې یې قضا راوړل واجب وي. دا د حنبلې فقهاوو په نزد مشهور (قول) دي.[1]

او صحیح خبره خو دا ده چې وینه هر کله پرې په داسې وخت کې راغله چې د نفاس امکان پکې وي نو هغه نفاس (وینه) ده، کنه حیض ده، مګر دا چې په دوامداره توګه پرې راشي نو بیا به استحاضه وي.

او دا هغه څه ته نږدې خبره ده چې په المغني کې یې له امام مالک رحمه الله څخه نقل کړې ده چې ویلي دي : او مالک ویلي:[2] «او که چېرته یې وینه له دوو او یا دریو ورځو وروسته ولیده، یعنې له پرې کېدو نه وروسته - نو هغه نفاس دی کنه حیض دی». وینا یې پای ته ورسیده. او دا د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله د ټاکنې غوښتنه هم ده.

په وینه کې د حقیقت له مخې شک نشته، بلکې شک یوه نسبي مسأله ده چې په هغه کې خلک د خپل علم او عقل له مخې سره اختلاف لري، او په قرآن او سنت کې د هر څه وضاحت شته، او هیڅکله الله تعالی یو څوک دوه ځلې په

---

1 المغني (١/٢٥٣).
2 المغني (١/٢٥٣).

روژې نيولو نه دی مکلف کړی، يا دا چې دوه ځلې طواف وکړي، مګر که چېرته په لومړي ځل کې څه نقصان وي او جبرانول يې پرته له بيا کولو امکان و نه لري، مګر دا چې بنده له مکلفيت څخه هغه څه تر سره کړل چې توان يې درلوده، نو پدې سره يې غاړه خلاصه شوه، لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَا...﴾

(الله هېڅ ساکښ ته د هغه له وسې پورته مسؤوليت نه متوجه کوي...) [البقرة:۲۸۶]، او فرمايي:

﴿فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ...﴾

(نو څومره چې کولای شئ له الله تعالی ووېرېږئ...) [التغابن:۱۶].

د حيض او نفاس تر مينځه پنځم توپير:

په حيض کې که له عادت څخه مخکې پاکه شي نو خاوند ته يې له هغې سره له کراهت نه پرته جماع کول روا دي، خو په نفاس کې که چېرته له څلوېښتو نه مخکې پاکه شوه نو خاوند ته يې مکروه دي چې جماع ورسره وکړي، په مشهور قول سره په مذهب کې ، خو صحيح خبره دا ده چې جماع کول ورسره مکروه نه دي. او دا د جمهورو علماوو قول دی؛ ځکه کراهيت شرعي حکم دی، شرعي دليل ته اړتيا لري، او په دې مسأله کې نور څه نشته پرته له هغه چې امام احمد له عثمان بن أبي العاص څخه ذکر کړي دي چې (مېرمن) يې

ورته له څلوېښتو نه مخکې راغله، نو ورته يې وويل : مه رانږدې کېږه.[1]

او د دې نه کراهت نه لازمېږي، ځکه کېدی شي هغه دا کار د احتياط لپاره کړی وي، له دې وېرې چې کېدی شي (مېرمن) يې له پاکوالي ډاډمنه نه وي، او يا کېدی شي د کوروالي له امله وينه په حرکت راشي، او يا د داسې کوم بل سبب له امله. والله اعلم.

## اووم څپرکی: د هغه څه د کارونې په اړه چې حيض بندوي او يا يې راولي، او هغه څه چې د حمل مخنيوی کوي او يا يې غورځوي

د ښځې لپاره د هغه څه کارول چې د حيض مخنيوی کوي په دوه شرطونو جايز دي:

لومړی: چې په ځان له ضرر څخه وېره ونه لري، که چېرته يې پر ځان له ضرر څخه وېره درلوده نو بيا جايز نه دی؛ د الله تعالی د دې قول پر اساس:

﴿...وَلَا تُلۡقُواْ بِأَيۡدِيكُمۡ إِلَى ٱلتَّهۡلُكَةِ...﴾

(...او په خپلو لاسونو خپل ځانونه په هلاکت کې مه غورځوئ...) [البقرة سورت: ايت ۱۹۵].

---

1 المغني (۲ / ۲۵۲)، او د عثمان بن ابي العاص اثر عبدالرزاق په المصنف (۱۲۰۲)، ابن ابي شيبة په المصنف (۱۷۴۵۰)، دارمي په السنن (۹۹۰) او ابن الجارود په المنتقی (۱۱۸) کې روايت کړی دی.

﴿...وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمۡ رَحِيمٗا﴾

(...او خپل ځانونه مه وژنئ (کفر يا ګناه مه کوئ) بې شکه الله خو پر تاسو ډېر مهربان دی). [النساء سورت: ايت ۲۹].

دويم: دا چې د خاوند په اجازې سره وي که چېرته د هغه سره تړاو ولري، لکه د هغه ښځه چې د عدت په حال کې وي په داسې ډول چې په هغې باندې يې نفقه واجب وي، نو هغه څه چې د حيض مخنيوی کوي استعمال کړي، تر څو د حيض موده اوږده شي او نفقه يې پرې زياته شي، نو پدې حالت کې ورته روا ندي چې هغه څه استعمال کړي چې د حيض مخنيوي کوي مګر د هغه په اجازه، همدا رنګه که چېرته ثابت شوه چې د حيض مخنيوی د حمل مخنيوی کوي نو بيا د خاوند اجازه ضرور ده، نو چې رواوالی يې ثابت شو، نو غوره دا ده چې استعمال نه کړی شي مګر د اړتيا لپاره؛ ځکه طبيعي وضعيت په خپل حال پرېښودل اعتدال ، روغتيا او سلامتيا ته ډير نږدې دي.

او د هغه څه کارول چې حيض راولي هم په دوو شرطونو جايز دي:

لومړی: چې د واجب د ساقطېدلو لپاره يې بهانه و نه ګرځوي، لکه رمضان ته نږدې يې وکاروي، د دې لپاره چې بوزه شي او يا پرې لمونځونه ورځخه ساقط شي، او داسې نور.

دويم: چې د خاوند په اجازه وي، ځکه د حيض راتلل يې د پوره خوند اخستلو څخه منع کوي، نو د هغه څه کارول چې

هغه پرې له خپل حق څخه منع کيږي روا ندي مګر د هغه په خوښۍ، او که چېرته مطلقه وه، نو پدې کې د خاوند د حق په ساقطولو کې عجله ده چې هغه واپسې ده که چيرته د هغه د پاره واپسي وي.

او هغه څه چې د اميدوارۍ مخنيوى کوي نو په دوه ډوله دي:

لومړى : چې په دوامدراه توګه يې بند کړي نو دا جايز نه دي؛ ځکه حمل پرې کيږي او پدې سره نسل کميږي، چې دا د شريعت د غوښتنو خلاف کار دى؛ چې هغه د اسلامي امت ډيرول دي، او ځکه ډاډ نشته چې شته اولادونه يې مړه شي نو بې اولاده کونډه به پاتې شي.

دويم: چې په موقته توګه يې مخنيوى وکړي، لکه يوه ښځه چې ډيره حامله کيږي، او حمل يې ناتوانه کوي، نو خوښ ګڼي چې حمل يې منظم کړي، په دوه کلونو کې يو ځل او داسې نور نو دا جايز دى، په دې شرط چې خاوند يې ورته پرې اجازه وکړي، بل دا چې ضرر به پرې ورته نه رسيږي، دليل يې دا دى چې صحابه و به د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په زمانه کې له خپلو ښځو څخه عزل کاوه لدې امله چې ښځې يې اميدواره نه شي، نو لدې کار څخ منع نه کړى شول، او عزل دې ته وايې چې د ښځې سره کوروالى وکړي او د انزال په وخت کې (تناسلي آله) راوباسي او د شرمګاه د باندى يې

انزال وشي.[1]

او د هغه څه کارول چې حمل ضایع غورځوي نو په دوه ډوله دي:

لومړی: چې له غورځولو یې هدف ضایع کول وي، نو که دا چېرته د روح د پوکولو نه وروسته وي نو پرته له شک نه چې حرام دي؛ ځکه دا پرته له حق نه د یو حرام شوي نفس وژل دي، او د حرام شوي نفس وژل په قرآن، سنت او د مسلمانانو په اجماع سره حرام دي، او که چېرته د روح د پوکلو نه مخکي وي نو علما یې د رواوالي په اړه سره اختلاف لري، ځینو یې جواز ورکړی، او ځینو منع کړی دی، او ځینو ویلي، جایز دي مخکې لدې چې پرنده وینه شي، یعنې چې څلوېښت ورځې پرې نه وي تېرې شوي، او ځینی یې وایي، روا دي تر هغه چې د انسان شکل پکې ښکاره نه شي.

احتیاط په دې کې دی چې د غورځولو مخنیوی یې وشي مګر د اړتیا لپاره، لکه چې مور ناروغه وي د حمل توان نه لري او داسې نور، نو پداسې حال کې یې غورځول جایز دي مګر تر هغه وخته پورې چې دومره وخت پرې نه وي تېر شوی چې کیدی شي د انسان پیداېښت پکې ښکاره شي نو بیا یې باید مخنیوی وشي، و الله اعلم.

دویم: چې له غورځولو یې موخه ضایع کول نه وي ، داسې

[1] بخاري په کتاب النکاح، باب العزل، شمېره (۵۲۰۹)، او مسلم په کتاب النکاح، باب حکم العزل، شمېره (۱۴۴۰)، د جابر رضي الله عنه له حدیث څخه نقل کړي دي.

چې د غورځولو هڅه يې د حمل د مودې پای ته رسيدو او د زيږون د نږدې کېدو پر مهال وي نو دا جايز دي، په دې شرط چې مور او يا اولاد ته په کې ضرر نه وي، او دا چې عمليات ته اړتيا و نه ليدل شي، که چېرته يې عمليات ته اړتيا درلوده نو دا بيا څلور حالتونه لري:

لومړی: چې مور هم ژوندۍ وي او ماشوم هم، نو بيا عمليات جايز نه دي مګر د اړتيا لپاره، داسې چې زيږون ستونزمن وي او عمليات ته اړتيا ولري، دا ځکه چې جسم د بنده سره امانت دی، نو داسې لاسوهنه به پکې نه کوي چې د ويرې احساس پکې وي مګر د ستر مصلحت لپاره، او ځکه چې کيدی شي هغه ګمان وکړي چې په عمليات کې ضرر نشته او بيا ضرر پيدا شي.

دويم: چې مور مړه وي او ماشوم هم مړ وي، نو بيا يې د راويستلو لپاره عمليات روا ندی ځکه چې ګټه نه لري.

دريم: چې مور ژوندۍ وي او ماشوم مړ وي، نو د راويستلو لپاره يې عمليات روا دي، خو پدې شرط چې مور ته ضرر متوجه نه وي، ځکه ظاهرا والله اعلم داسې ده چې ماشوم کله مړ شي نو هغه پرته له عمليات څخه نه راوځي، او په ګېډه کې يې پاتې کېدل په راتلونکي کې د بل حمل مخنيوی کوي او سخته ورته تماميږي او کيدی شي بې نکاح پاتې شي که چېرته د پخواني خاوند څخه په عدت کې وي.

څلورم: چې مور مړه وی او ماشوم ژوندی، نو که چېرته يې د ژوندي پاتې کېدو هيله نه وه، نو د عمليات کول جايز نه

دي.

او که چېرته يې د ژوندي پاتې کېدلو هيله وه، نو که چېرته يې ځنې برخې راوتلې وې نو د پاتې راويستلو لپاره يې د مور ګېډه څېرې کيږي، او که چېرته هيڅ شی ترې نه و راوتلی نو زمونږ ملګرو رحمهم الله ويلي: د مور ګېډه د ماشوم د راويستلو لپاره نه څېرې کيږي، ځکه چې دا مثله ده (د مړي د غړو پرې کول) خو صحيح خبره دا ده چې ګېډه څېرې کيږي که چېرته پرته لدې نه يې راوتل ممکن نه و، او دا د ابن هبيره ټاکنه ده، په الانصاف کې يې ويلي: او دا غوره ده.[1]

ما وويل: په ځانګړې توګه زمونږ په دې وخت کې، د عمليات تر سره کول مثله نه ده، ځکه ګېډه څېرې کيږي او بېرته ګنډل کيږي، او ځکه چې د ژوندي حرمت د مړي له حرمت نه ستر دی، او ځکه چې د هلاکت نه د يو معصوم ژغورل واجب دي، او حمل يو معصوم انسان دی، نو ژغورل يې واجب دي. و الله اعلم.

پاملرنه: په تېرو حالتونو کې چې د حمل غورځول پکې جايز دي بايد د هغه چا اجازه موجوده وي چې حمل د هغه وي لکه خاوند.

او تر دې ځايه هغه څه پای ته ورسيدل چې مونږ يې پدې مهمه موضوع کې ليکل غوښتل، او په لنډه توګه مو په بنسټيزو مسائلو او ضوابطو بسنه وکړه، کنه فروع او جزئيات

---

1 الإنصاف (٢/٥٥٦).

يې او هغه څه چې ښځې ورسره لدې څخه مخ کيږي هغه بحر دی چې ساحل نه لري، خو ځيرک کولی شي چې فرعي مسائل اصولو او جزئی مسائل کلياتو او ضوابطو ته وروګرځوي، او شيان د خپلو همجنسو سره (قياس) پرتله کړي.

او مفتي دې په دې پوه شي چې دی خلکو ته د هغه څه په رسولو او بيانولو کې چې د الله پيغمبرانو راوړي دي د الله او د مخلوق تر منځ واسطه ده، او له ده څخه به د هغه څه په اړه پوښتنه کيږي چې په قرآن او سنت کې دي، ځکه دا هغه دوه سرچيني دي چې بنده پرې پر پوهېدلو او عمل کولو مکلف دی، او هر هغه څه چې د قرآن او سنت خلاف وي نو هغه غلط دي، پر ويونکي يې بيرته ورګرځول واجب دي، او عمل کول پرې روا نه دي، کيدی شي ويونکی يې عذر لرونکی مجتهد وي نو هغه ته به د خپل اجتهاد اجر ورکول کيږي، مګر نور چې په غلطۍ يې پوه وي ورته روا ندي چې ويې مني.

او پر مفتي واجب دي چې خپل نيت الله تعالی ته خالص کړي، او په هره پيښه کې چې پرې راځي له الله نه مرسته وغواړي، او له هغه ذات څخه ثبات، او حق ته درسيدو توفيق وغواړي.

او پرې واجب دي هغه څه ته اعتبار ورکړي چې په قرآن او سنت کې راغلي وي، نو ګورې به او په اړه به يې پلټنه کوي او د پوهېدو لپاره به يې د علماوو د ويناوو په مرسته

پلټنه کوي.

او ډېرى وختونه داسې يوه مساله پيدا شي چې انسان يې په اړه د خپل توان په اندازه د علماوو د ويناوو په رڼا کې پلټنه کوي، بيا يې د حکم په اړه داسې څه نه مومي چې پرې ډاډه شي، او دا هم کيدى شي چې بالکل يې په اړه هيڅ يادونه هم و نه مومي، نو کله چې قرآن او سنت ته مراجعه وکړي نو نږدي او ښکاره يې ورته حکم څرګند شي، او دا يې اخلاص، علم او پوهې ته په کتلو سره فرق کوي.

او پر مفتي واجب دي چې کله د ستونزې سره مخ شي چې د حکم کولو پر مهال له صبر نه کار واخلي او بيړه ونه کړي، ځکه ډير داسې شوي چې په يو حکم کې يې بيړه کړې بيا ورته له نږدې پلټنې وروسته ښکاره شوې چې په هغه پريکړه کې غلط شوى و، نو پرې پښېمانه شي، او کيدى شي هغه څه جبران نه کړى شي چې فتوا يې په کې ورکړې ده!.

او په مفتي کې چې خلکو حوصله او له حکم څخه د ډاډمنتيا صفتونه وليدل، نو په وينا يې باوري کيږي او ارزښت ورکوي، او که ويې ليدل چې بيړه کوي او بيړه کوونکى زيات غلطي کوونکي وي، نو بيا په هغه څه باور نه لري چې ده يې په اړه فتوا ورکړي وي، نو په بيړه او غلطۍ سره يې خپل ځان او نور د هغه علم او حق نه محروم کړل چې ورسره دى.

له الله تعالى څخه سوال کوو چې مونږ او زمونږ مسلمانانو ورونو ته نيغه لار وښايې، او خپلې پاملرنې ته مو شامل کړي، او له خوييدو څخه مو په خپله پاملرنه وساتي، هغه ذات

سخي او د عزت خاوند دی، وصلّى الله وسلّم على نبيّنا محمدٍ، وعلى آلـه وصحبـه أجمعين. والحمد لله الذي بنعمتـه تتـمّ الصالحات.

( دا ليکنه ) الله تعالی ته د فقير (بنده) په قلم سره بشپړه شوه

محمّد الصالح العثيمين

د جمعې د ورځې په ځانښت کې

۱۳۹۲ هـ ق کال د شعبان ۱۴.

❋❋❋

فهرست

د ښځو د طبيعي وينو (حيض، نفاس او استحاضې) په اړه ليکنه ۲
لومړى فصل: د حيض معنا او حکمت ............................... ٤
دويم څپرکی: د حيض وخت او موده.................................. ٥
دريم څپرکی: هغه بيړني حالتونه چې په حيض کې رامنځ ته کيږي
.......................................................................... ١٥
څلورم ځپرکی: د حيض احکام......................................... ۲۱
پنځم ځپرکی: د استحاضې او د هغې د حکمونو په اړه.......... ٤٤
د استحاضې حالتونه:.................................................. ٤٥
د هغه چا حالت چې مستحاضې ته ورته والی ولري:............. ٥٠
د استحاضې أحکام:.................................................... ٥٢
شپږم څپرکی: د ولادت دوره (نفاس) او احکام يې.............. ٥٤
د نفاس أحکام: ....................................................... ٥٦
اووم څپرکی: د هغه څه د کارونې په اړه چې حيض بندوي او يا يې راولي، او هغه څه چې د حمل مخنيوی کوي او يا يې غورځوي
.......................................................................... ٦٠

***

ps١٣٠v ٣,١- ٢٠٢٦/٠٤/٠٦

رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

رسالة الحرمين

# د حرمين پیغام

د مسجد الحرام او مسجد النبوي
زیارت کوونکو لپاره شرعي لارښود په بېلابېلو ژبو کې